# مورچل

## پروعدو ژمنتیا مو یو بل بری!!

څوارلسم کال، دریيمه، پرلپسې ۱۳۹مه گڼه،
رجب – شعبان ۱۴۴۱هـ ق، مارچ ۲۰۲۰م

## اشرف غني
او د ماډرنې لوټمارۍ چلونه

## د کابل رژیم به د امریکا د اقتصادي فشار تاب راوړي؟

## عسکرته!




## راتلونکی رمضان
او داوس وخت غوښتنه

## ماه رمضان
از نگاه تاریخ اسلام

# مورچل

## علمي، سیاسي
## او جهادي میاشتنۍ خپرونه

ځوارلسم کال دریېیمه، پرلپسې۱۳۹مه ګڼه،
رجب – شعبان۱۴۴۱هق مارچ۲۰۲۰م

## لړلیک


| ګڼه | مطلب | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرمقاله................................................ | ۱ |
| ۲ | له توافق څخه دامریکاسرغړونو په هلکه اعلامیه........ | ۲ |
| ۳ | ماه رمضان از نگاه تاریخ اسلام......................... | ۴ |
| ۴ | دکابل رژیم به دامریکا د اقتصادي فشار تاب راوړي؟.. | ۹ |
| ۵ | اشرف غني او دماډرنې لوټمارۍ چلونه................ | ۱۰ |
| ۶ | اسلامي امارت؛ د ژمنتیا ځو مثالونه!.................. | ۱۲ |
| ۷ | کرونا او احتیاطي تدابیر.................................. | ۱۴ |
| ۸ | په نړۍ کې به د کرونا له امله، ضرور بدلون راځي؟.... | ۱۶ |
| ۹ | د جګړې په اړه حکیمانه ویناوې !....................... | ۱۹ |
| ۱۰ | د خپل فکر او فرهنګ په اړه زموږ رسالت............. | ۲۲ |
| ۱۱ | د کابل اداره په کوم جرأت د سولې تړون سبوتاژ کوي؟.... | ۲۵ |
| ۱۲ | دکب دلسمې تړون دخپلواکۍ او سوکالۍ ضامن دی | ۲۸ |
| ۱۳ | عسکر ته !.............................................. | ۲۹ |
| ۱۴ | راتلونکی رمضان او د اوس وخت غوښتنه............. | ۳۱ |
| ۱۵ | په جهاد کې زموږ اخلاق .....شهادت ته تیاری............. | ۳۴ |
| ۱۶ | ټرمپ دافغانستان په اړه څه کولای شي ؟ ............... | ۳۸ |
| ۱۷ | د اسلام غزوات او سرایا................................. | ۴۱ |
| ۱۹ | جنګي جنایتونه (مارچ)................................. | ۴۴ |
| ۲۰ | دمورچل ورمې ........................................ | ۴۶ |
| ۲۱ | د۲۰۲۰م کال د فروري میاشتې جهادي خبرونه........ | ۴۸ |


**د امتیاز خاوند**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

**مسؤل مدیر**

صلاح الدین "صارم"

**کتـــنپلاوی:**

| | |
|---|---|
| ایـــوب صـــافي | حکــــــمت |
| معیـن احـــمد | حافـظ سعـــید |
| حســـن زوی | موسی فرهـــاد |

**تخنیکي چارې**

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

**مکاتباتي ادرس**

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله...

بسم الله الرحمن الرحيم



# پروعدو ژمنتیا مو یو بل بری !!

له ډېرو داسې کړاوونو او ستونزو په بري راوتلي یو، چې خلکوته یې زغم څه چې تصور هم گران دی، په وژنو او ربړونو مو دښمن ستړی شو، خورا بدې ننگونې، فریبونه او دوکې راته په لار واچول شوې، خو مات نه شوو اودوی مو داشغال هدف ته له رسېدو راوگرځول .

په جگړه، نظامي تکتیک، سیاسي ډگر، مقاومت، استقامت، فرهنگي وړتیا، ادبي قوت او هرډگر کې په دښمن بری، زمونږ دعوه نه! بلکې ددښمن په گډون د نړیوالو اعتراف دی، دمبارزې ټوله ماضي مو له تور داغه پاکه ده، په مقابل کې مو دښمن چې تمدن او تهذیب ترځان محدودوي او ځان دنړۍ تر ټولو متمدن اومهذب قوت بولي دبشریت، اخلاقو او انسانیت له ټولو بریدونو یې پښې واړولې او حتی هغو بندونو او قراردادونو ته هم ژمن پاتې نه شول چې دوی پخپله په همدې نوم وضع کړي وو .

په کابل کې په اشر جوړه اداره یې د دیمکراسۍ هغه بوینه غوښه شوه چې ټولې نړۍ ترې استفراق وکړ او دټول عمر لپاره ورته پېغور شوه، چې بشریت او محکومو ملتونو ته به د دوی دآزادۍ ارمغان همداسې وي .

هغه څه چې مونږ پرې ویاړو او د دومره سترو متمدنو! او مهذبو! قوتونو سره په مقابله کې مو پرې امتیاز ترلاسه کړی، خپلوکړو ژمنوته تعهد او ژمنتیا ده چې دوی یې سره له دومره سترو دعوو ماتوونکي دي، خو پرمونږ یې نه شي ثابتولای چې له کړو وعدو مو دې قصدي تخلف کړی وي.

همدا مو داسلامي عقیدې ځانگړتیا او پر مقابل لوری یو بل بری دی چې په وار وار خپلو کړو ژمنو ته متعهد نه دي پاته شوي او تل یې دوه مخي کړې، دانه تنها داچې د دوی تشتت اونه یو والی ښیي، بلکې زمونږ په وړاندې ددریځ اضطراب تزلزل او د دوی ښکاره کمزوري په ډاگه کوي .

دادی له افغانستانه دامریکایانو د وتلو دموافقت لیک نږدې دوه میاشتې پوره کیږي چې له مخې یې باید ددمارچ له (۱۰)نېټې مخکې پنځه زره بندیان خوشي شوي وای او ترڅو بین الافغاني مذاکرات پیل او دقضیې اساسي حل رامنځته شوی وای، خو دادی نه تنها چې بندیان خوشي نه شول، بلکې په عین حال کې یې په هغو سیمو بمبار او چاپې هم پیل کړې چې یاد تړون یې اجازه نه ورکوي .

مونږ چې دهیواد دخپلواکۍ اوداسلامي نظام پلي کولوته کوم هوډ کړی ترتحققه ورته همداسې په مثالي قربانیو هوډمن یو، همدا مو دبري راز دی، او ډاډه یوچې په افغانستان کې به دافغانانو له منځه دافغانانو دخوښې نظام رامنځته کیږي او همغه به په دې خاوره پایښت موندلی شي اوبس .




### له امریکا سره د لاسلیک شوې توافقنامې څخه د مقابل لوري د مکررو سرغړونو

# په هکله د اسلامي امارت اعلامیه

د روان میلادي کال د فبروري د میاشتې په ۲۹مه نیټه د افغانستان اسلامي امارت د امریکې له متحده ایالاتو سره د سولې توافقنامه لاسلیک کړه چې وروسته د ملگرو ملتونو د امنیت شورى هم دا توافقنامه تائید کړه او نړۍ وستایله او دا یې د افغانستان د کشالې د حل لپاره ښه چوکاټ وباله. اسلامي امارت تراوسه توافقنامې ته ژمن پاته شوی او د هغې مواد یې کاملاً رعایت کړي دي. امریکایي چارواکو پخپله هم منلې چې د اسلامي امارت ځواکونو په شویو توافقاتو عمل کړی. اسلامي امارت له افغان جهتونو سره د بین الافغاني مذاکراتو لپاره هم په کراتو امادگي ښودلې ترڅو په هیواد کې یوه دائمي حل او سرتاسري سولې ته ورسیږو خو له هغه مخکې د توافقنامې مطابق باید د اسلامي امارت پنځه زره بندیان را خلاص شي چې متأسفانه تر اوسه پورې یې په یوه او بله پلمه خلاصون ځنډیدلی دی.

د لاسلیک شوې توافقنامې له مخې ترڅو چې د بین الافغاني مذاکراتو په نتیجه کې له افغاني جهتونو سره جلا توافق نه وي شوی او هر اړخیز اوربند ته نه یو رسیدلي، تر هغو اسلامي امارت د کابل اداري په ټولو نظامي مراکزو، هغه که په کلیوالو سیمو کې دي او یا ښاري سیمو کې بریدونه کولی شي لاکن بیا هم اسلامي امارت لاس نیولی، نه یې په لویو ښارونو کې د دوی په مراکزو بریدونه کړي او نه یې په لویو پوځي مراکزو عملیات ترسره کړي دي. یوازې د کلیوالي سیمو په

ځینو پوستو چې ولس ډېر ورنه په تکلیف دی بریدونه شوي چې هغه هم د تیر کال په نسبت ډېر کم دي؛ خو د امریکایي لوري او د دوی د داخلي او خارجي نظامي ملاتړو له خوا زموږ په وړاندې لاندې ښکاره سرغړونې شوې دي:

ــــ د ۵ زره بندیانو د خلاصون پروسه په غیر موجه دلائلو تراوسه ځنډیدلې ده.

ــــ په مکرر ډول د مجاهدینو په مراکزو چې د جګړو ساحې هم نه دي بریدونه شوي.

ـ د عامو خلکو په ګډون په ګڼو ځایونو کې د امریکایي او داخلي ګډو ځواکونو لخوا چاپې وهل شوې.

ــــ په ملکي استوګن ځایونو باندې بې مورده ډرون بریدونه او نور بمبارونه شوي دي.

ـ زموږ تر واک لاندې سیمو کې عادي مجاهدین چې یا پیره کوي یا په لاره د تګ په حال کې وي، او هلته هیڅ جګړه هم نه وي رامنځته شوې، په هغو ډرون حملي شوې دي.

ـ په هلمند، کندهار، فراه، کندز، ننګرهار، پکتیا، بدخشان، بلخ او د هیواد په نورو برخو کې له توافقنامې څخه ګڼې او ښکاره سرغړونې شوې چې موږ يې د ارتباطي کانال له لارې وخت په وخت له امریکایانو سره جزئیات هم شریک کړي دي.

داچې په دې برخه کې د پرلپسې بې پروایي شاهدان یو، نو له امریکایی لوري څخه جدي غوښتنه کوو چې پخپله هم د توافقنامې محتویات رعایت کړي او خپل نور ملاتړي هم د توافقنامې کامل رعایت کولو ته متوجه کړي.

د جګړې د مشخصې ساحې او وخت نه علاوه په نورو سیمو کې د اسلامي امارت په مجاهدینو بریدونه، هر ډول چاپې وهل او نور واقعات دا ټول پارونکي اعمال او ښکاره سرغړونې بلل کیږي. که چیرې دغه ډول سرغړونې دوام وکړي، دا به د بې اعتمادۍ فضا رامینځته کړي او نه تنها دا چې توافقنامې ته به زیان ورسوي؛ بلکې مجاهدین به هم متقابل غبرګون ته اړ کړي او د جنګ کچه به لوړه کړي.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۱/۸/۱۲هـ ق

۱۳۹۹/۱/۱۷هـ ش ــ ۲۰۲۰/٤/٥م



# ماه رمضان از نگاه تاریخ اسلام

حبیبی سمنگانی

ماه رمضان ؛ ماه نزول قرآن، ماه برکات و تجلیات و فصل بهار مؤمنان است. آیات متعدد قرآنی و احادیث زیادی نبوی بیانگر فضیلت و عظمت این ماه رحمت، مغفرت و نجات است. پیامبر اسلام – صلی الله علیه و سلم – فرموده است که اگر امت من اهمیت رمضان را بدانند، آرزو می کند تمام سال رمضان باشد. از همینست که بعضی بزرگان با دیدن ماهتاب عید، برای رمضان بعدی انتظار می کشیدند. رمضان شبی را به نام «لیلة القدر» با خود دارد که پروردگار جهانیان از هزار ماه بهتر خوانده است. مدحت رمضان را هرگز نمی توان به این چند جمله مختصر نمود.

شاعری چه زیبا گفته است :

هذا الذی کانت الایام تنتظر

فلیوف لله اقوام بما نذروا

در سطور ذیل می کوشیم اهمیت، حیثیت و واقعات ماه رمضان را از نگاه تاریخ مشاهده بکنیم. دامان تنگ مقاله ظرفیت این را ندارد که تمام ماجراهای تاریخی ماه رمضان را حتی به گونه اجمالی در خود جا دهد، بناءً مطالب محدود و مختصری را تحت چند عناوین ویژه گردهم آورده ایم.

**رمضان ماه نزول قرآن و کتب سماوی :**

ماه رمضان تنها ماه نزول قرآن نیست، بلکه در مسند احمد به روایت واثله بن الاسقع – رضی الله عنه - آمده است که صحایف ابراهیم – علیه الصلوة و السلام – به تاریخ اول ماه رمضان، تورات به تاریخ ششم ماه رمضان، زبور به تاریخ دوازدهم و انجیل به تاریخ سیزدهم رمضان نازل شده است.

حضرت جبرئیل - علیه السلام – به تاریخ ۲۱ رمضان سال بعثت با اولین وحی نزد سرور کائنات – صلی الله علیه وسلم - در غار حرا تشریف آورد. اولین وحی که بر پیامبر اکرم – صلی الله علیه و سلم – نازل شد، بنا بر روایات معتبر آیات ابتدایی «سوره العلق» و بنا بر بعضی روایات دیگر «سوره فاتحه» بود.

در روایت بخاری شریف آمده است که جبرئیل – علیه السلام – در دو رمضان اخیر زندگی پیامبر

اسلام – صلی الله علیه وسلم – قرآن مجید را با ترتیب جدید از آنحضرت - صلی الله علیه وسلم - شنید. آن ترتیب را «ترتیب توقیفی» گفته می شود و ما قرآن را به همان ترتیب می خوانیم.

**رویدادهای تاریخی :**

روزه، رکن سوم اسلام است. روزه در ماه شعبان سال دوم هجری بر مسلمان ها فرض شد و مسلمان ها به تاریخ اول رمضان آن سال روزه گرفتند.

به تاریخ ۱۲ رمضان سال اول هجری، رسول الله – صلی الله علیه و سلم – پس از هجرت مدینه، ۴۵ مهاجر و ۴۵ انصاری را برای یکدیگر برادر ساخته و درمیان آن ها رشته مواخات یعنی برادری قائم نمود. بعضی مؤرخان می نویسند که این واقعه پنج ماه بعد از هجرت در جریان تعمیر مسجد نبوی و بعضی ها می گویند که بعد از تعمیر مسجد نبوی صورت گرفت. مؤرخان در مجموع نام های یکصد و سی نفر را که درمیان شان مواخات صورت گرفته بود محفوظ کرده اند. به این اساس، مواخات درمیان ۶۵ مهاجر و ۶۵ انصاری صورت گرفته است.

به تاریخ ۱۷ رمضان سال ۲ هجری، غزوه بدر درمیان لشکر ۳۱۳ نفری مسلمان ها به سرکردگی پیامبر اسلام – صلی الله علیه و سلم - و لشکر هزار نفری مشرکان قریش به سرکردگی ابوجهل در میدان بدر (در هشتاد کیلومتری مدینه منوره) رخ داد و مسلمان ها درین جنگ پیروز شدند. ۷۰ نفر از مشرکان قریش به شمول ابوجهل کشته و ۷۰ نفر دیگر شان اسیر شدند و تنها ۱۴ تن اصحاب کرام – رضی الله عنهم اجمعین – به شهادت رسیدند.

به تاریخ ۲۰ رمضان سال ۸ هجری، مکه مکرمه فتح شد.

به تاریخ ۲۵ رمضان ۸ هجری، رسول الله – صلی الله علیه وسلم – پس از فتح مکه، سریه ای را به سرکردگی خالد بن ولید – رضی الله عنه – برای شکستن مجسمه عزی به طائف فرستاد. سریه دسته از لشکر و نیز جنگی را گفته می شود که رسول الله – صلی الله علیه و سلم – دران به نفس نفیس شرکت نکرده باشد، بلکه لشکری را به سرکردگی کسی دیگری فرستاده باشد.

به تاریخ ۲۹ رمضان سال ۱۳ هجری، مسلمان ها به سرکردگی مثنی بن حارثه – رحمه الله – در منطقه بویب (عراق) لشکر ساسانی های فارس را شکست دادند.

به تاریخ ۱۳ رمضان سال ۱۵ هجری، عمر فاروق – رضی الله عنه – بعد از فتح فلسطین از سوی مسلمان ها، به فلسطین رسید و کلید شهر قدس را در تصرف خود درآورد.

به تاریخ ۲۳ رمضان سال ۳۱ هجری، یزدگرد سوم، سی و چهارمین و آخرین بادشاه ساسانی ها کشته شد و سلطنت ۴۲۶ سالهء ساسانی ها در ایران از بین رفت. سلطنت ساسانی ها به امپراتوری فارس نیز یاد می شود.

به تاریخ ۳ رمضان سال ۳۷ هجری «معاهده تحکیم» درمیان علی و معاویه – رضی الله عنهما – در منطقه دومة الجندل صورت گرفت. این سعی بود برای صلح در جریان جنگ صفین، اما ناکام شد. دومة الجندل شهر تاریخی است در ایالت الجوف، عربستان سعودی.

به تاریخ ۲۹ رمضان سال ۹۲ هجری، درمیان لشکر مسلمان ها به سرکردگی طارق بن زیاد – رحمه الله – و لشکر گوت ها درگیری صورت گرفت.

مسلمان ها درین جنگ پیروز شدند و راه ورود اسلام به اسپانیا هموار شد.

به تاریخ ۲ رمضان سال ۱۳۲ هجری خلافت اموی سقوط کرد و خلافت عباسی آغاز شد. قابل ذکر است که خلافت اموی بعد از خلافت راشده دومین خلافت اسلامی بود و - از ۴۱ هجری تا ۱۳۲ هجری - ۹۱ سال دوام کرد. هرچه خلافت عباسی که سومین خلافت مسلمان ها بود - از ۱۳۲ هجری تا ۶۵۶ هجری - در مجموع ۵۲۴ سال دوام کرد.

به تاریخ ۱۴ رمضان سال ۳۵۹ هجری، سنگ بنیاد جامعه ازهر (مصر) از سوی معز لدین الله، خلیفه چهارم سلطنت فاطمی گذاشته شد و ساختمان مسجد ازهر در ماه رمضان ۳۶۱ هجری تکمیل شد.

به تاریخ ۱۴ رمضان سال ۶۷۰ هجری، امام نووی - رحمه الله - کتاب مشهور خود «ریاض الصالحین» را تکمیل نمود.

**مشاهیر مسلمانان که در رمضان به دنیا آمدند :**

امام حسن - رضی الله عنه، نواسه رسول الله - صلی الله علیه و سلم - و پسر حضرت علی و حضرت فاطمه - رضی الله عنهما - به تاریخ ۱۵ رمضان سال ۳ هجری به دنیا آمد.

امام ابن زهری - رحمه الله - محدث، فقیه و مؤرخ مشهور به تاریخ ۱۸ رمضان سال ۵۰ هجری در مدینه به دنیا آمد و در رمضان سال ۱۲۳ یا ۱۲۴ هجری در مدینه وفات نمود. او شاگرد انس بن مالک - رضی الله عنه - و استاد عبدالرحمن اوزاعی - رحمه الله - بود.

جعفر صادق - رحمه الله - که از تبع تابعین و ائمه مجتهدین بود به تاریخ ۸ رمضان سال ۸۳ هجری چشم به جهان گشود. فقه جعفریه اهل تشیع به جعفر صادق - رحمه الله - منسوب است و شیعه های اثنا عشریه او را ششمین امام خود می دانند. امام ابوحنیفه و امام مالک - رحمهما الله - از او احادیث روایت کرده اند. مادر او دختر نواسه ابوبکر صدیق - رضی الله عنه - بود.

عبدالرحمان الداخل، اولین خلیفه اموی در اندلس به تاریخ ۵ رمضان سال ۱۱۳ هجری در نزدیکی دمشق به دنیا آمد.

احمد بن طولون، والی مصر در دوران خلافت عباسی به تاریخ ۲۳ رمضان ۲۲۰ هجری در بغداد به دنیا آمد. او سپس از خلافت عباسی فاصله گرفته بود و دولت طولونی را در سال ۲۵۴ هجری در مصر و شام پایه گذاری کرد.

امام ابن حزم، محدث، مؤرخ، فقیه، شاعر و فیلسوف مشهور اندلس به تاریخ ۳۰ رمضان سال ۳۸۴ هجری در شهر قرطبه، پایتخت اندلس به دنیا آمد. او از علمای مشهور اهل ظواهر بود و تعداد تصانیف او به چهار صد می رسد. نقاط العروس فی تواریخ الخلفاء و جمهرة انساب العرب از تصانیف مشهور اوست. نیز «المحلی» کتاب بلند پایه او در فقه الحدیث است.

امام فخر الدین رازی - رحمه الله - مفسر، محدث، فقیه، فیلسوف و متکلم مشهور جهان اسلام به تاریخ ۲۵ رمضان سال ۵۴۴ هجری در شهر ری (ایران) به دنیا آمد. تفسیر الکبیر و جامع العلوم از کتاب های عمده اوست. به ویژه تفسیر الکبیر اهمیت ویژه ای در علم الکلام و تفاسیر عقلانی دارد. او شافعی بود و تفسیر خود را زمانی که در یکی از مدارس هرات (افغانستان) تدریس می کرد

نوشته است. او در تفسیر الکبیر به شدت بر معتزله، جبریه، قدریه و رافضیه رد کرده است.

ابن خلدون حضرمی، تاریخ نویس و جامعه شناس نامدار جهان اسلام به تاریخ اول رمضان ۷۳۲ هجری در تونس به دنیا آمد. «کتاب العبر، وديوان المبتدأ والخبر في أيام العرب والعجم والبربر، ومن عاصرهم من ذوي السلطان الأكبر» کتاب او در رشته تاریخ است و به تاریخ ابن خلدون شهرت دارد. «مقدمه ابن خلدون» که جزو تاریخ ابن خلدون است کتاب مستقل و نخستین تصنیف منظم علمی در فن تاریخ شمرده می شود و ازین سبب ابن خلدون را بانی فلسفه تاریخ گفته می شود.

قاضی القضاة علامه بدرالدین عینی، مصنف عمدة القاری (شرح صحیح البخاری) به تاریخ ۱۸ رمضان ۷۶۲ هجری در مصر به دنیا آمد. او فقیه مشهور فقه حنفی بود و شرحی به نام البنایه بر هدایه در ۶ جلد، مبانی الاخبار فی شرح معانی الاثار، طبقات الفقهاء، الجوهرة السنیه فی تاریخ الدولة المؤیدیه و ده ها کتاب دیگر نیز نوشته است.

**مشاهیر مسلمانان که در رمضان رحلت نمودند :**

ام المؤمنین خدیجه – رضی الله عنها – به تاریخ ۱۰ رمضان سال دهم بعثت وفات نمود. تمام اولاد پیامبر اسلام – صلی الله علیه وسلم – که به سن شعور رسیدند از بطن بی بی خدیجه – رضی الله عنها – بودند.

رقیه – رضی الله عنها – دختر پیامبر – صلی الله علیه و سلم – و زوجهء عثمان غنی – رضی الله عنه – به تاریخ ۱۷ رمضان سال دوم هجری وفات نمود. رقیه – رضی الله عنها – ذات الهجرتین لقب داشت. زیرا او دوبار هجرت نمود، بار اول به حبشه و بار دوم به مدینه.

خالد بن ولید – رضی الله عنه – به تاریخ ۱۸ رمضان سال ۲۱ هجری در حمص (شام) وفات نمود. رسول الله – صلی الله علیه و سلم – او را سیف الله لقب داده بود. خالد بن ولید – رضی الله عنه – در بیشتر استقامت های عرب، عراق، شام و ایران سپاه اسلام را قیادت نمود و در هر معرکه که سهم گرفت پیروز شد. او با وصف اینکه بخش اعظم عمر خود را در میادین جنگ سپری کرده بود در بستر وفات نمود.

حضرت علی – کرم الله وجهه – پسر کاکا و داماد رسول الله – صلی الله علیه و سلم – و خلیفه چهارم مسلمان ها به تاریخ ۱۹ رمضان سال ۴۰ هجری بدست یکتن از خوارج «عبدالرحمن ابن ملجم» در مسجد کوفه در اثنای نماز توسط شمشیر زهرآلود زخمی شد و دو روز بعد به تاریخ ۲۱ رمضان در وقت نماز صبح به شهادت رسید. خوارج کسانی بودند که پس از واقعه تحکیم در جنگ صفین، از علی – کرم الله وجهه – جدا شدند و به دشمنی صحابه کرام – رضی الله عنهم اجمعین – پرداختند.

فاتح مصر عمرو بن العاص – رضی الله عنه – به تاریخ ۳۰ رمضان سال ۴۴ هجری در مصر وفات نمود.

ام المؤمنین عائشه – رضی الله عنها – به تاریخ ۱۷ رمضان سال ۵۷ یا ۵۸ هجری در مدینه منوره از دنیا رحلت نمود. در علم الحدیث، پس از ابوهریره – رضی الله عنه – بیشترین احادیث از عائشه صدیقه – رضی الله عنها – روایت شده است.

تابعی مشهور سعید بن جبیر – رحمه الله – به تاریخ ۱۱ رمضان سال ۹۵ هجری در کوفه وفات نمود. او از ائمه کبار تابعین بود.

امام محمد بن اسماعیل البخاری – رحمه الله -، مصنف «صحیح البخاری» به تاریخ ۳۰ رمضان ۲۵۶ هجری در

سمرقند (ازبکستان) به سن ۶۲ سالگی وفات نمود. کتاب او «الجامع الصحیح» مشهور به صحیح البخاری، به عنوان اصح الکتب بعد کتاب الله یاد می شود. امام بخاری - رحمه الله - برای تدوین و تصنیف این کتاب به کشورهای زیادی سفر کرد و از هشتاد هزار نفر احادیث جمع آوری نمود. او تقریبا ششصد هزار احادیث صحیح و غیر صحیح را متنا و سنداً حفظ نموده بود.

محدث و مفسر مشهور محمد بن ماجه - رحمه الله - به تاریخ ۲۲ رمضان ۲۷۳ هجری در قزوین (ایران) وفات نمود. کتاب او «سنن ابن ماجه» شامل صحاح سته است. او تفسیر قرآن و تاریخ قزوین نیز نوشته بود، اما هر دو کتاب هیچگاه یافته نشد.

بو علی سینا از مفکران، فیلسوفان و طبیبان بزرگ جهان اسلام که به شیخ الرئیس شهرت داشت و بانی طب جدید شمرده می شود به تاریخ اول رمضان ۴۲۸ هجری به سن ۵۸ سالگی در همدان (ایران) چشم از جهان بست. کتاب «القانون فی الطب» و «الشفاء» دو اثر مشهور اوست که شهرت لافانی و جهانی دارد و در دانشگاه های امروزی غرب نیز ازان استفاده می شود. القانون فی الطب بعد از انجیل دومین کتابی است که در اروپا به چاپ رسید و از مهم ترین آثار اطبای جهان قدیم است.

امام ابو الفرج ابن جوزی، مفسر، محدث ومؤرخ مشهور به تاریخ ۱۲ رمضان سال ۵۹۷ هجری در بغداد وفات نمود. او فقیه حنبلی مذهب بود وبیش از دو و نیم صد کتاب نوشته بود. زادالمسیر فی علم التفسیر، تلبیس ابلیس، سیرت و مناقب عمر بن العزیز، کتاب الاذکیاء و هادی الارواح الی بلاد الافراح چندی از تصانیف اوست.

قطب الدین شیرازی، از علمای ممتاز و نامدار علوم حکمت و فلسفه، ریاضی، طبی و نجوم به تاریخ ۲۴ رمضان ۷۱۰ هجری در تبریز (ایران) وفات نمود. او شاگرد خواجه نصیر الدین طوسی بود و کتاب قانون ابن سینا را شرح و تحریر اقلیدوسِ خواجه نصیر الدین طوسی را ترجمه کرده بود. نیز کتابی به نام «نهایة الادراک فی درایة الافلاک» در علم نجوم نوشته شد.

ابن خلدون که مشخصات اجمالی او قبلا بیان شد به تاریخ ۲۸ رمضان ۸۰۸ هجری در قاهره (مصر- امروزی) وفات نمود.

میرزا الغ بیگ، نواسه امیر تیمور لنگ به تاریخ ۹ رمضان المبارک ۸۵۳ هجری کشته شد. او ماهر فلکیات و ریاضی دان بود و رصد خانه بزرگی در سمرقند ساخته بود. تحقیقات او در مورد بعضی سیاره های نظام شمسی تفاوت چندانی با تحقیقات امروزی ندارد.

عبدالمجید ثانی (۳۷مین و آخرین خلیفه خلافت عثمانی) به تاریخ ۴ رمضان سال ۱۳۶۳ هجری، در دوران تبعید در پاریس (فرانسه) وفات نمود. خلافت عثمانی آخرین خلافت مسلمان ها در روی زمین بود که بیش از هفت قرن - از ۶۹۸ هجری تا ۱۳۴۱ هجری - دوام کرد. این خلافت که شاهد عروج و زوال طولانی مدت بود، ساحه حاکمیت آن در دوران عروج مناطق زیادی از قاره های آسیا، اروپا و افریقا را احاطه کرده بود. گفته می شود که چهل کشور فعلی جهان یکزمان بخشهای از خلافت عثمانی بودند.



# دکابل رژیم به د امریکا د اقتصادي فشار تاب راوړي؟

م ـ خبیر

د کابل حکومت د مشر لومړي مرستیال په خپله یوه وروستۍ مرکه کې په تلویحانه انداز ویلي چې د غرب مرستې قطع کېدل به پر کابل رژیم او ځواکونو یې زیات منفي اغېز ونه لري.

امرالله صالح له یک ټلوېزون سره په خبرو کې ویلي، که د نړۍ کومک قطع شي، نه د هلمند سیند وچیږي، نه د پنجشېر سیند وچیږي، او نه د هندوکش د غره ملا ټیټیږي.

له شکه پرته چې له کابل حکومته د نړۍ د مرستو پرې کېدل به نه هندوکش په ملا ټیټ کړي او نه به د هېواد روان سیندونه ودروي. لامل یې دا دی چې دا سیندونه د غرب په پیسو او کومک روان نه دي او نه هم هندوکش د نړیوالو په پیسه تکیه کړې ده.

د مرستو د قطع کېدو زور به له هغه ځایه وځي کوم ته چې ورتللې.

له ۲۰۰۱ز کال راهیسې، له کله چې د امریکا په مشرۍ لوېدیځو هېوادونو افغانستان اشغال کړی، د کابل حکومت تر تنصیب وروسته د دې رژیم او رامنځته شویو ځواکونو په تقویه لسگونه میلیارده ډالر لگول شوي دي، ځکه د امریکا له یرغله مطلوب نتایج د همدې دوو په ځواکمنېدو او راپورته کېدو سره ترلاسه کېدای شول.

اما د سلگونو میلیاردونو ډالرو له لگښت سره سره، نه کابل رژیم په خپلو پښو ودرېد او نه یې هم پوځ.

د کابل رژیم ۷۵٪ لگښت امریکا او نور لوېدیځ هېوادونه ورکوي. همداراز ټولو ځواکونو ته یې دریشي، وسله، معاش، تېل او تجهیزات د بهرنیانو له ډالرو ورکول کیږي.

دمگړی امریکا په کابل کې د واک پر سر د مخالفتونو له امله یوازې د رژیم له ځواکونو د یو میلیارد ډالره مرستې کمولو گواښ کړی دی. د دې یو میلیاردي مرستې د کمښت گواښونو هم غربي څارونکي اندېښمن کړي او وایي چې دا به د طالبانو پر وړاندې د رژیم د ځواکونو په جگړه او مورال بد اغېز وکړي، او حکومت به پاتې سیمې هم له لاسه ورکړي.

کله چې د یو میلیارد ډالره مرستې کمېدل پوځ او په سر کې یې حکومت سره شیندي، نو د ټولې مرستې کمېدل به څومره ناوړه اغېز کوي؟ د کابل رژیم اوسني مشر په ۲۰۱۸ز کال کې ویلي و چې د امریکا له مرستو پرته یې پوځ شپږ میاشتې هم دوام نشي کولای.

پر بهرنیو مرستو د کابل رژیم پوره اتکاء ته په کتلو، ویلای شو چې صالح وروستۍ څرگندونې یوازې د خلکو د غولونې هڅه ده – هغه څه چې نوموړی یې د ځان په څېر جاسوسانو د ډنډې یوه برخه بولي.



# اشرف غني او د ماډرني لوټماری چلونه

قاري حبیب

خبر شوي به یاست چې اشرف غني څو ورځې وړاندې د یوه نوي فرمان په صدور سره د افغانستان د مالیې وزارت په څلورو برخو وویشه، چې له جملې یې درې تر ټولو مهمې برخې له وزارت څخه جلا او د ارګ مربوطې کړې.

اشرف غني د دې فرمان له مخې مالیه وزارت لومړی په دریو مستقلو ادارو تجزیه کړ چې ( د عوائدو اداره، د ګمرکاتو اداره، د بودیجې او خزانه داري اداره) یې بولي. دغه درې مستقلې ادارې یې د مالیې وزارت څخه جلا کړې او په ارګ کې یې د ولسمشرۍ د دفتر تابع وګرځولې. له دې علاوه د مالیې وزارت د یوې بې واکه جوړښت په حیث پاته شو چې یوازې به د اداري او لوژستیکي ملاتړي په حیث سمبولیکه دنده اجراء کوي.

دا چې اشرف غني د خپلې واکمنۍ په دوهم دور کې ولې دغه اقدام وکړ، د نظر خاوندان او د اقتصادي چارو کارپوهان وایي چې نوموړی هڅه کوي دا ځل تر پخوا ډیره غلا وکړي او د حکومت د ټولې بودیجې او مالي حسابونو بلا منازع واک په لاس کې واخلي.

د مالیې وزارت یو له مهمو حکومتي نهادونو څخه دی. په دې وزارت کې هر کال تر پنځه میلیارډ ډالره زیاتې پیسې ښکته پورته کیږي. چې دوه میلیارده یې داخلي عوائد او درې میلیارد نور یې هغه د مرستو پیسې دي چې امریکا او نور هیوادونه یې دغه وزارت ته د حکومتي مصارفو لپاره ورکوي. د څلور لکه حکومتي کارمندانو، دوه لکه د معارف کارمندانو او درې لکه امنیتي منسوبینو معاشات ټول د همدې وزارت له طریقه اجراء کیږي. دا خورا لوی مبلغ او ډیرې پیسې دي چې اشرف غني غواړي تر خپل واک لاندې یې راولي.

اشرف غني پخوا ځکه د دې وزارت له منابعو غلا نه شوای کولای چې د قانون له مخې د مالیې وزارت پارلمان ته مسؤل دی، پارلماني وکیلان حق لري چې د وزارت چارې وڅارې او د کړنو نظارت یې وکړي. که اشرف

غنـي د دې وزارت لـه منـابعو غـلا کـولای نـو ضرور بـه د پارلمـاني تفتـيش او نظـارت لـه املـه دده غـلا رسوا کيدلای.

دا چـې اشرف غنـي د وزارت تـر ټولـو مهمـې اداري ( عوائـد، گمرکـات او بوديجـه) د مسـتقلو ادارو پـه حيث اعـلان کـړي. اوس وايـي چې دا بـه د يـوه ځـانگړي بـورډ لخـوا اداره کيـږي چـې سرپرستي بـه يـې شايد شخصـا د اشرف غنـي يـا هـم د نومـوړي د کـوم مشـاور پـه غـاړه وي. دغـه فـوق العاده او نـوی بـورډ د قـانون لـه مخـې پارلمان تـه مسـؤل نـه دی او اشرف غنـي کـولای شي پـه ډاډه زړه خپلـو غـلاوو تـه پنځـه کالـه نـور هـم دوام ورکړي.

د يـادونې وړ ده چـې اشرف غنـي د مـاډرنو غـلاوو متفکـر دی او لـه دې وړانـدې يـې د واک پـه لومړۍ دوره کـې هـم د خو نويـو ادارو پـه تأسيس سره پټـو غـلاوو تـه زمينـه سـازي کـړې وه. د بيلگـې پـه ډول لـه اشرف غنـي وړانـدې د وزارتونـو زيـاتره قراردادنـو خپلـه د هـر وزارت او يـا هـم د مـاليې وزارت د تـداركاتو اداري لخـوا تـرسره کيـدل. خـو چې کلـه اشرف غنـي راغـی نومـوړي د تـداركاتو کميسـيون رامنځتـه کـړ، چـې خپلـه يـې مشرـي کولـه او ټـول واړه يـا لـوی قراردادونـه يـې شخصا ترسره کول.

د تـداركاتو د کميسـيون يـو تـر ټولـو سـتر قـرارداد د کابـل پـه دارالامـان سـيمه د اداري کمـپلکس د جوړولـو قـرارداد و چـې پـه يـوه اعشـاريه دوه ميليـارد ډالـره بـه پـه سـل هکتـاره ځمکـه جـوړيږي. اشرف غنـي دغـه مهـم او ميليـاردي قـرارداد د خطيـب العـالمي پـه نـوم هغـه لبنـاني شرکـت تـه ورکـړ چـې د اشرف غني اوښـی (د رولا غنـي ورور) پـه کـې د لـوړ پـوړي مسـؤل پـه حيث دنـده اجـراء کـوي. لـه دې څخـه معلـوميږي چې اشرف غنـي د رولا غنـي لـه عيسـوي ورونـو او بهرنيـو شرکتونـو سره پـه همغـږۍ د افغانسـتان دمنابعو لوټ تالان پيل کړی دی.

لـوټماری تـه د چـل جوړولـو پـه لـړ کـې د اشرف غنـي بـل ابتکـار د ۹۱ احتيـاطي کـوډ تأسـيس و چـې اشرف غنـي لـه دې لارې هـم د سـياسي ملاتـړو د اخيسـتلو، تبليغـاتي کمپـاين، حق السکوت او نـورو غيـر قـانوني فعـاليتونو لپـاره ډيـره اسـتفاده کـړې او دغـه ميليـادرونو افغـانۍ يـې پـه داسـې ډول غـلا کـړي چـې پـل مونـدل يـې هـم گران دي.

لـه لـوړو حقـائقو معلومـه شـوه چـې اشرف غنـي هـم د پخوانيـو فسادگرو او ملي لوټمارانـو پـه شـان غـل او اختلاسـگر دی. خـو فـرق يـې دا دی چې هغـوی پـه ښـکاره غـلاوې کـولې او د غـلا پـه پيسـو يـې قصرـونه جـوړول چـې هـر چـا يـې لوټماري پـه سـترگو ليدلـه. امـا اشرف غنـي چـې د اقتصـاد متخصـص دی، د لـوټمارۍ لـه پرمختلليـو او مـاډرنو طريقـو سره بلـد دی نـو ځکـه پـه داسـې ډول غـلا کـوي چـې پـه هـر څـوک يـې پـه آسـانه لوټماري نه شي درک کولای.



# اسلامي امارت؛
## د ژمنتیا ځو مثالونه!

**سید شریف**

اسلامي امارت دګران هیواد خپلواکۍ، امنیت، یووالي، مرکزي واکمنۍ، ارضي تمامیت، ښېرازۍ او په ټوله کې دافغان ولس لوی ارمان اسلامي نظام ته ژمن دی.

د افغان ولس یو لوی ارمان او ستره غوښتنه د اسلامي نظام حاکمیت دی، ددې ارمان د ترسره کیدو لپاره یې ملیونونه سرونه قربان کړي، جسماني او رواني شکنجې او ځور یې ګاللي، له شتمنیو او کورونو بې برخې شوي او.....

اسلامي امارت نویمه لسیزه کې دولس همدا ارمان( د اسلامي نظام حاکمیت) پوره کړ. وروسته چې یرغلګرو پر ګران هیواد یرغل وکړ او اسلامي نظام یې له منځه یووړ، اسلامي امارت یو ځل بیادهیواد د خپلواکۍ او د اسلامي نظام دحاکمیت په موخه جهاد او مبارزه پیل کړل.

اسلامي امارت که په نظامي ډګر کې داسلامي نظام په وړاندې د شته خنډونو جارو کولو ته لومړیتوب ورکړی، نو په هر سیاسي کنفرانس او مطبوعاتي ناسته کې یې هم دافغان ولس همدا ستره غوښتنه( اسلامي نظام) یاده کړې او پرعملي کیدو یې ټینګار کړی دی.

اسلامي امارت ته د نیم افغانستان د سپارلو وړاندیزونه شوي،نه یوازي داچې همدا ډول پیشنهادونه یې منلي نه دي، بلکې سخت غبرګون یې ښودلی.

د اسلامي امارت په واکمنۍ کې چې دهیواد ۹۵

سلنه باندې يې ولکه وه،هيڅ ګاونډي، له هيڅ لوري دومره زړه ونه کړ چې دګران هيواد يوه لوېشت مځکه لاندې کړي، خو برعکس دامريکايي اشغال سره دهيواد ډيرې سيمې ګاونډيانو دکابل حکومت او چارواکو سره د بېلابيلو پروټوکولونو پر بنسټ لاندې کړې.

د بېلګې په توګه سپين بولدک کې د دوستۍ په نوم دروازه چې دوه کيلو متره دې خواته جوړه شوه، دجهانګير او لقمان کليو سپارل، د تور خم رسمي دروازه، ګوشته کې تاسيسات او پر ډيورنډ د اغزن تار لګول .

همداراز د حيراتان پل چې د امارت واکمنۍ کې نيم دافغانستان او نيم دازبکستان و، خو اوس همدا پل په بشپړه توګه د ازبکستان په ولکه کې دی.

په زرنج کې دافغانستان- ايران پر پوله د بازار مشترک په نوم بازار ته ورته يوه لويه منډيې وه، دامارت په واکمنۍ همدا بازار د افغانستان برخه ګڼل کيده، خو اوس همدې بازار کې دايران بيرغ رپيږي،ايران يې خپله برخه ګڼي او افغانان همدې بازار ته په ډير تکليف ځي او راځي!!

اسلامي امارت دهيواد په بيارغونه او ښېرازۍ کې ټول امکانات په کار اچولي،حتی همدا اوس د اشغال ضد جهاد په سخته مرحله کې يې هم دهيواد په مختلفو برخو کې مدرسې، ښوونځي، روغتونونه، پلونه، سړکونه او نور عام المنفعه بنسټونه جوړ کړي.

د اسلامي امارت مشرتابه او مجاهدين له سره تېر شوي، خو دهيواد، امارت او مبارزې پر خپلواکۍ يې له چا سره جوړجاړی نه دی کړی. په ډېرو سختو حالاتو کې يې ددين، هيواد او ولس خدمت ترسره کړی دی.

د اسلامي امارت تعهد دنورو په څېر يوازې د کاغذ پر مخ کرښې نه دي، بلکې په تکرار سره يې ثابته کړې چې پر کړې وعده وفا کوي. څه چې وايي په عمل کې يې پلي کوي،غدر نه کوي، تر خبرو او شور يې کار پياوړي او پراخ دی او په وار وار يې د قول او عمل ببساری يووالی ثابت کړی.

اسلامي امارت چې زموږ ديني او ملي منافع تامين کړي، فردي او ټولنيز حقونه يې را ساتلي، نو اسلامي امارت ته ژمنتيا مو وجيبه جوړيږي، تر ممکنه حده بايد داسلامي امارت ساتنه وکړو او د پياوړتيا لپاره يې هر اړخيزې هڅې وکړو.




# کرونا
# او احتیاطي تدابیر

ارمان

کرونا، زکام ته ورته یوه وبائي ناروغي ده، کومې چې اوس مهال په ټوله نړۍ کې دیوې پراخې وژونکې ناروغۍ بڼه غوره کړې او له امله یې نړیوال په سخته پرېشانۍ او ډارکې مبتلی دي.

نړۍ کې وړاندې هم دتاریخ په بېلابېلو دوروکې په مختلفونو شکلونوکې وبائي ناروغۍ راغلې دي،خو هغه به ترډېره منطقوي وې،خو څومره چې بشري ټولنه گلوبل گرځي هغومره وبائي ناروغۍ هم د گلوبل بڼه غوره کوي

لکه همدا کرونا ناروغي چې دچین له(ووهان) ښار څخه پیل شوه اوډېره ژرترامریکا،اروپا،منځني ختیځ،جنوبي اومنځنۍ اسیا ترهیوادوورسیده، په افغانستان اوپاکستان کې هم ورځ په ورځ پراختیا مومي

ترکومه پورې چې داسبابوخبره ده،نوپه اړه یې مختلفې خبرې کېږي، مثلاً دا امکان هم ښودل کېږي چې دمیکروبي یا وایروسي جنگ صورت هم کیدای شي، اوتردې مهاله د شویو جنگونوپس منظرته په کتو دا امکان نشي ردیدای،زکه په جگړوکې دکیمیاوې وسلوپه کارولو دبندیورروسته ددفاعي ټیکنالوجۍ یاسائنس له مخې دمیکروبونویاوایروسونو په زریعه حیاتیاتي جنگ یا وایروسي بریدونه دامکان څخه وتلي ندی،اوداسې راپورونه هم ورکړل شوي دي چې په تیارولو یې کارهم روان دی،نولري نده چې کرونا وایروس دي هم ددغسې تجربوڅخه یوصورت وي،خو دا یوائې دامکان درجه ده، چې نه یې یومخ تصدیق کیدی شي اونه یې تردید

ددې ناروغۍ په اسبابوکې یوسبب موسمي بدلون هم یادیږي،چې دموسمونو دایره اودورانیه بدلیدونکې ښکاري،چې وجه یې هرڅه ده؟خودا یومعروضي حقیقت دی چې موسمي او دچاپیریالونو تغیر وړاندې درومي او دهغه د مختلفو اغیزو او تاثیراتوڅخه انکارنشي کیدی.

په ورته توگه په خوړوکې نه احتیاط هم ددې ناروغۍ یو عمده سبب گڼل کېږي،چې الله تعالی هرڅومره ځاروي یا ځیزونه پیدا کړي دي،هغه یې ټول دانسان خوړولپاره ندي پیداکړي، په دې وجه الله تعالی په عظیم الشان قرآن کې دحلال وحرام، اودطیب وخبیث ترمنځ توپیرکړی دی،اوس دکوم ځای نه چې




دا وایروس خورشوی دی هلته دحلال وحرام، دطیب اوخبیث ترمنځ هیڅ فرق شتون نلري،پـه دې وجـه ویـل کېږي چې په خوړوکې نه احتیاط کول دکرونا ناروغۍ سبب کیدی شي

نوپه هرصورت چې اسباب هرڅه وي کرونا ناروغې دیوښکاره حقیقت په توګه په بشري ټولنه کې خپـل شتون اواثرات مني،اودزمکنۍ کرې دهرې برخې خلک ترې دځـان سـاتلوپه برخـه کـې احتیـاطي تـدابیرغوره کوي چې دقرآن وسنت په رڼاکې هم احتیاط کول ضروري دي

هو!الله تعالی وخت په وخت ددغسې نـاروغیو پـه پیـداکولو سره انسـانانوته دا احسـاس ورکـوي چـې بیشکه تاسو داسبابو په دنیاکې اوسئ او اسباب غوره کوئ، خو اصل قـوت اسـباب نـدي، بلکـې ددې ترشـا «مسبب الاسباب» اصلي قوت دی، ځوک چې اسباب هم غیرمؤثرګرځولی شي او دهغو اثرات هم لامحـدود ګرځولی شي.

بل عرض دادی چې په بخاري شریف کې روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسـلم چـې کلـه مدینې ته هجرت وکړ،نوهلته وبا ته ورته یـوه نـاروغې خـوره وه،تـردې چـې ابوبکرصـدیق رضـی اللـه عنـه او حضرت بلال رضی الله عنه ناروغان شول اوپه ورخطائي کې هغوی ته خپل وطـن یادشـو،په دې سره رسـول الله صلی الله علیه وسلم دعا وکړه چې یا الله! مدینې منورې څخه دوبا کیفیت ختم کړه، چې هغـه وه مدینـه منوره د وبائي حالت نه وژغورل شوه نواوس هم مسلمانانوته پکارده چې ددعاګانوته مخـه ډیـره کـړې پخپلـو ګناهونوباندې په انفرادي اواجتماعي دواړو توګه استغفاراوتوبې ویستو اهتمام ډیرکړي

بل کله چې حضرت عمررضی الله عنه دبیت المقدس فتح کولو لپاره فلسـطین تـه لاړ،نوهلتـه پـه پولـه ورته وویل شول چې په مخکې سیمه کـې طـاعون نـاروغي خـوره شـوې ده اوتـه دډیرومهمـو اشخاصـو سره یوځای هلته درومې چې دا د خطر څخه ډکه خبره ده، نـو حضرت عمـر رضـی اللـه دصـحابه وو دمختلفـو اشخاصو سره دمشورو کولو وروسته هلته دنه تګ فیصله وکړه چې په اوریـدوېې حضرت عبـد الـرحمان بـن عوف رضی الله عنه وویل:ما درسول الله صلی الله علیـه وسـلم نـه اوریـدلي چې:پـه کومـه سیمه کـې وبـا ناروغي خوره شوې وې له بیرون څخه دې هلته ځوک نه ورزي اونه دې له هغه ځای نه بیرون ځـوک راځـي، نوپه دې وجه حضرت عمررضی الله عنه هلته دنه تګ فیصـله درسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم د ارشـاد مطابق وه چې ددې مطلب دادی چې دوبائي ناروغیونه دخپل ځان اوخلکو دژغورلو او ساتلو احتیاطي تـدابیر غوره کول داسلامي لارښوونو برخه اونبوي سنت دی چې په پوره توګه یې غوره کول پکار دي.



# په نړۍ کې به د کرونا له امله

## ضرور بدلون راځي، خو څنګه...؟!

لیکنه: دوکتور قاضي فضل الله....شمالي امریکا
ژباړه: م. فرهاد

د کرونا ویروس په اړه ډېر خلک لیکنې کوي، ځینې خو یې د هغه چا خلاف د طنز او توهین لپاره کاروي؛ چې له وړاندې لا ورسره زړه بداوی لري. او ځینې بیا په نه ستړې کېدونکې ډول لګیا دي چې د ساینس او دین ترمنځ یې د جنګ په نوم تلقي کړي.

ځینې یې په افسانوي بڼه هغه سازشي تیوري ګڼي چې د ژوند اخیستونکې وسیلې په ډول پلاني د پلاني پرضد رامنځ ته کړې، د پلاني په ترو یې پلاني ته انتقال او له هغه نه هغه بل ته په قصدي ډول و غځوله او یا یې عمداً دا سناریو رسنیزه کړه.

ځینې بیا فکر کوي چې د بشري نفوس د کابو کولو په غرض رامنځ ته شوی پلان دی، او یو شمېر نور بیا وایي چې دا د یوچا لخوا د ځینو هیوادونو د اقتصادي پرمختګ د قیضه کولو په نیت تجربوي مانور دی.

او ویل کیږي چا چې وایروس تیار کړی؛ هغوی لا له وړاندي دفاعي واکسین هم تیار ایښی، چې پر موقع به یې وړاندې کوي، ځینې بیا په دې باور دي چې دا د امپریالیزم یا سرمایه دارنه نظام د تحفظ او پرمختګ هڅه ده. او د یو شمېر وګړو بیا تحلیل دا دی چې نړۍ نن سبا د موسمي ککړتیا له امله ناوړه حالت ته رسېدلې، د نقل و حرکت د کابو کولو له طریقه غوښتل کیږي چې د هوا ککړتیا له منځه یوسي.

د ځینو خلکو نظر دا دی چې په کومو هیوادونو کې چې عمر خوړلي وګړي زیات شوي، ژوند یې پر دولتي او مرستندویه بودیجه اضافي بوج دی؛ له هغوی نه د خلاصون فارموله همدا کرونا په کار اچول شوې.

ځینې وایي، نه، دا وایروس په طبعي شکل رامنځ ته شوی، خو دا چې څنګه او له کومې لارې رامنځ ته شوی؛ دلته بیا په افسانوي بڼه تحلیلونه او تجزیې ترسترګو کیږي. یو شمېر خلک په دې معتقد دي چې

دا د الله تعالی له لوري بندګانو ته د سزا یوه طریقه ده، او د مظلومانو د آه و فریاد اثر دی.

لنډه دا چې انسانان همیشه د ناڅاپي آفاتو پرمهال د هغوی د اسبابو په تلاش پسې وځي او خپلې تجزیې وړاندې کوي. مګر حقیقت دا دی په څه شکل چې دا وبا رامنځ ته شوې؛ الله تعالی ښه وړباندې عالم دی. او یا چې کوم چا په مصنوعي توګه رامنځته کړې؛ هغوی به پرې خبر وي. ولې نن سبا خو ټوله نړۍ په چیغو ده چې د تدارک او مخنیوي لپاره یې څه ناڅه چاره وکړای شي.

خو هرڅه چې دي، وي به، مګر له کورونا وروسته نړۍ به اوس هغه نړۍ نه وي؛ کومه چې تر کرونا وړاندې وه، څرنګه چې له هرې نړیوالې وبا او یا هر جهاني جنګ نه وروسته نړۍ پرمخکنی حالت نه ده پاتې شوې، دا ځل به هم دنیا په اجتماعي، اقتصادي، سیاسي او بل هر لحاظ پر خپل حالت پاتې نشي. هرو مرو به د ډېر ستر تغیر شاهده وي، خو دا چې،

**څه ډول بدلون؟**

آیا داسې خو به نه وی لکه څرنګه چې له ۱۱/۹ نه وروسته د غربیو هیوادونو اقتصاد لا پسې تباه کړل شو؟ آیا داسې خو به نه وي چې شیطاني نظام نور هم پسې مستحکم شي، له جنګي او دفاعي وسایلو برسیره پر ټول اقتصاد د نړۍ د دوو زبرځواکونو ولکه ټینګه شي او په دې توګه نوره نړۍ په کامل ډول د یو غلام حیثیت خپل کړي؟ آیا داسې خو به نه وي چې کرنسي نوټ، کریډیټ کارت او نورو آلاتو په وسیله د وایروس د انتقال ډرامه نوره ویرونکې وبلله شي، او په همدې توګه داسې نظام ته لاره هواره شي چې د نړۍ د هر وګړي هره روپۍ د زبرځواکونو ترلاسونو تیریږي؟ او دا چې د بټ کوائن فارموله چې له نن نه څو کاله وړاندې نړۍ ته وړپیژندل شوې؛ آیا له وړاندې لا د همدې مقصد لپاره خو نه وه؟!

الله تعالی دې وکړي چې د بدلونونو بڼه همداسې نه وي، بلکې د خیر طرف ته وي، په دې توګه چې بشر د یو اقتصادي او یا سیاسي حیوان شکل اختیار نکړي، بلکې انسان لږ تر لږه انسان جوړ شي.

د نن سبا انسان ته خو چې کتل کیږي، یا فقط سیاسي حیوان ترې جوړ دی او یا اقتصادي. بلکې دا دواړه سره یو شوي، درېیم قسم درنده تري جوړ دی. چې د اقتصاد لپاره سیاست کاروي او د سیاست لپاره اقتصاد.

څوک چې ستر اقتصادي حیوان دی؛ هغوی که څه هم عملاً په سیاست کې ځان ښکیل کړی نه وي، خو د نوري نړۍ سیاسیون یې د فنانس یا تمویل په وسیله نڅاګرۍ ته اړ کړي وي، او د خپلې خوښې چارې وړباندې ترسره کوي. او په عین حال کې په میلیاردونه ګټې ترلاسه کوي. د درېیمې نړۍ سیاسیون او چارواکي هسې هم د اقتدار په هوس کې هرډول کمیشن کارۍ او دلالۍ ته تیار وي.

دا اوس اوس چې په نړۍ کې د یاد وایروس له امله کوم مرګونه شوي او ورسره ورسره سیاست او معیشت دواړو درانه ګذارونه خوړلي؛

نو دنیا به لـه نـن نـه وروسته څنګـــه وي؟ د هیوادونــــو اړیکـي بـه څنګـه وي؟ ( دا چیلـنج پرخپـل ځـای؛) خـو اوس سمدلاسه د نـړۍ لپـاره د ویـروس مخنیـوی او تـدارک تر هغه هم ستر چیلنج دی.

حقیقــت دا دی چــې دا ناروغي چې څنګه پـه طبعـي ډول رامـنځ تـه شـوې، علـت چې یـې هرڅـه وي؛ وي بـه؛ خو علاج او معالجه به یې هم په طبعي شکل سره وي.

طبعیت او پـنځ پوهـان هــم پــه یــو ډول قرنطینــه مراکــزو ( ریسرــچ سینټرو) کــې مراقبــې کــوي، ترڅــو کشف ورته وسي چې د پلانۍ ناروغۍ علاج پلانۍ دوا ده.

دا د طبعیاتو سالکین او صوفیان دي چې د څیړنو لپاره په قرنطین (خلوت) کې د څه کشف مونـدلو پـه مقصـد پـه اهـتمام سره کښـیني. بـاور دا دی چــې خــالي لاس بــه نــه پاتیږي، ځکه چې د الله تعالی سـنت دا دی چـې خپـل هـیڅ غوښتونکی بنـده محـروم نـه پریږدي، نو په خلـوت کـې د خلکو کښیناستل د ستاینې وړ اقدام دی.

یو ټکی د پام وړ دی، هغه دا چې ساینس او مذهب نه خـو پخپلـو کې سره حلیفان دي او نه حریفان. مطلب دا چې نه په مکمـل ډول یـو لـه بل سره لازم او ملزوم دي، او نه دا چې له یو بل سره مطلق دښمنان.

بلکې دا دواړه د عمل بیلابیل ډګرونه دي، هر یو پخپل خپل ځای کې په سمه توګه کـار کـوي، یـو د ژوندانـه د اسـبابو راسـپړلو او د هغـوی د کاروني او ساتنې په موخه هلې ځلـی کـوي، او بـل بیـا د ژوندانـه د اصـلي مقصد حاصلولو، او په سیې توګه انسان ته د زندګۍ تیرولـو لاري چـاري ښيي.

دا خو موږ یو چې څوک په اسلام مشرف ګنو او چا تـه عیسـایي او یـا یهودي وایـو، ولې سـاینس پوهـان خپلـو نوښـتونو، خپلـو تخلیقـاتو او خپلـو دواګانو ته نه د یهودي نوم ورکولای شي، نه عیسای او نه هم د اسلام.

که داسې وای نو بیا خو به د دې لپاره اصول موجود وای، پر هره دوا به لیکلې وای چې دا دوا د پلاني دین منونکو ناروغانو لپاره مفیده ده او دا د پلاني دین منونکو لپاره. له دې پرته که یې د بل دین منونکی وخـوري، یـا خو به بې اغیزې وي او یا به یې د سایډ اپیکټ ښکار شي.

مګر متاسفانه چې دا ساده خبره زموږ عقل او ذهن تـه ولې سـمه نـه راځي؟ د دواړو میدانونو (ساینس او مذهب) کم علمو ستو د نړیوالې وبـا په دې حالت کې هم د خپل کباړ بازار ګرم ساتلی.؟

د خدای لپاره! که مذهب د مـذهب پوهـانو لپـاره پرینبـودل شي او ساینس، ساینس پوهانو ته وسپارل شي، او دا نیم علمه وګړي یې لـه منځـه ووځي، ترڅو د بشري ټولني عـام وګـړی لـه دې وبـایی مصیبت او فوبیـا څخه نجات وموندلای شي.

الله تعالی چې د دې ټولـو کائنـاتو خـالق دی، او د ټولـو مخلوقـاتو زندګي یې یو د بل سره په یو نه یو ډول تړلې ده، له همغـه اللـه څخـه مـو التجاء ده چې ژر تر ژره له خپلو بندګانو نه دا وبـاء دفـع کـړي، او پخپـل فضل سره پرخپل مخلوق خاص رحم او مهرباني وکړي. آمین

پای ......!!



# د جګړې په اړه حکیمانه ویناوې!

م عبد الله.طیب

مسلمان ته اسلام دا اجازه ورکړې چې حق په هر ډول لوښي کې وي، هغه اخیستلی شي، مسلمان د سمې لارې او سمې خبرې پلټونکی دی، هغه که دهرچا سره وي، اسلام یې ورڅخه قبلوي. له همدې وجې حدیث کې راځي: "الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ أَيْنَمَا وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا" حکمت د مؤمن ورکه ده، چېرې یې چې پیدا کړه ، هغه یې ډېر حقدار دی.

نو دا مهمه نه ده چې حکیم څوک دی، هرڅوک چې د حکمت څښتن دی، مطلب په علم، فلسفې، معرفت او دکارونو په حقیقت او جوهر بصیرت لري، د هغه خبره باید واخیستل شي او خپل ژوند ورباندې غوره وګرځول شي.

زموږ د جګړو ځپلي هیواد دغه تریخ حالت دغسې مهمو تجربو او حکمت خبرو ته ضرورت لري، زموږ د ژوند رنګیني هم پدې کې ده، چې ښه تجربې ولرو، دغسې د نورو خلکو له تجربو څخه ګټه واخلو او د هغوی د تجربو او حکمت په رڼا کې خپل ژوند تغیر کړو، د حکمت هغه ملغلرې چې ما د جګړې په اړه ما له ډېره وخته جمعه کړې وې، ستاسې په وړاندې دي:

١. د دښمن پېژندل په حقیقت کې نیمه بریا ده او دښمن ته نیمه ماتې ده.

٢. خپل پلانونه او نخچې داسې برابرې کړه لکه شپه چې څوک یې لیدلای نه شي او د تنفیذ په وخت کې لکه تندر داسې شه ! "صن تزو"

٣. د جګړې درولو تر ټولو اسانه لار داده چې یو جانب یې وبایلي.

٤. هغه څوک مړ وګڼه چې جګړې ته د ګټلو په نیت نه ورځي. "جنرال ډُګلاس"

٥. که ته خپل دښمن پیژنې او خپل ځان هم پېژنې نو بیا ویرې ته ضرورت نشته چې نتیجه به څه وي.

٦. که چا ویل : قلم له تورې ډیر قوي دی، واضحه خبره ده چې د پیکا ضربه یې نه ده خوړلې. "جنرال دُګلاس"

٧. انسانانو ته په کار دي چې جګړو لپاره حد وټاکي ، کنه جګړې به بیا دوی ته حد ټاکي. "جون کاناډي".

٨. د جګړې حد حقدار ته نه ټاکل کیږي بلکې هغو ته چې پاتې شي.

٩. په حقیقت کې د جګړې قرباني ړومبي وړاندې کیدونکي خلک وي.

١٠. ټول خلک تقریبا سختۍ او ستونزې برداشت کولای شي خو که ته غواړې یو سړی معلوم کړې، نو هغـه تـه قدرت او منصب ورکړه. ابراهام لینکولن"

١١. دا نه شې ویلای چې حضارتونه نه بدلیږي... دښمن په هره جګړه کې تا پـه نـوې وسـله او پـه نـوې طریقـه وژني.

١٢. جګړه به یا وګټې یا به یې وبایلې نو به ژوندی یا به مړ شې، بس توپیر یواځې د سترګو په رپولو کې دی.

١٣. ټول جنګونه د چل ول او فریب په هنر ولاړ دي.

١٤. حقیقي او دائمي فتحه او بری په امن او سوله کې دی، نه په جګړه کې.

١٥. ترڅو چې هلته سړي وي، هلته به جګړه وي. "البرټ اینشاټین".

١٦. هر ربښتینی قوموندان او پوځ مشر به ډېر ژر اعتراف وکړي چې په عسکري قوت تطبیق کې یـې څـومره لـویې غلطۍ کړې دي. "روبرټ ماکنمارا".

١٧. قوت همیشه د حریت دښمن وي. "رونالډ ریګن"

١٨. جګړه د هغو لپاره ښه ده چې تراوسه یې نه وي تجربه کړي.

١٩. هوښیار دیپلوماتان د جګړې په شروع کې دهغې ختمولو لپاره لکه پوځیان داسې چابک وي.

٢٠. همیشه چې چا وسله جوړه کړې بیا یې استعمال کړې .

٢١. زه نه پوهیږم، دریم نړیوال جنګ به په کومه وسله راځي، خو دا وایم چې څلورم نړیوال جنګ به پـه شـګو او تیږو سره وي. "البرټ اینشتاین"

٢٢. که چېرته ستا حمله په خپل حالت روانه وي، نو ته په کمین اوښتی یې ، د جګړې ټوله جوړه شوې نقشـه لـه دښمن سره په نښتې ساقطه شي.

٢٣. امیر او قوموندان په خپله هوښیارۍ مشري کوي نه په قوت سره . "صن تزو".

۲٤. که توپانچه دې شپږ مرمۍ ولي نو اووه کسانو ته کنځلې مه کوه!

۲٥. تولنيز او جماعي عمل ځکه مهم وي چې دښمن له نور ډيرو کسانو سره په دښمنۍ او شخړې اوړي.

۲٦. له ليوانو سره ملګرتيا هله کوه چې ستا تبرګی تيار وي. روسی متل.

۲۷. د شکست خوړلي خندا د ګټونکي فتحې او بري ټول لذت له منځه وړي. "شکسپير"

۲۸. ترهغو په تا څوک سپريدلی نه شي مګر که تا ورته ملا کږه کړه. مارټين لوسر

۲۹. هغه چې عسکري لپاره پيدا وي، الوتلی نه شي.

۳۰. هغه انسان ته چيلنج مه ورکوه چې له هغه سره داسې څه نه وي چې پکې تاواني شي!

۳۱. له خپل دښمن سره په هغه وسله جنګ کوه چې دښمن دې ترې ويريږي نه په هغه چې تـه تـرې ويريـږې. "ګاندي".

۳۲. که دښمن په شرارت سره مقاومت کاوه، نو ته په حکمت سره خنډ جوړيږه. "کليرلونان".

۳۳. په ښه توګه شاتګ او انسحاب کول له بد مقاومت کولو څخه غوره ده.

۳٤. کله چې يو انسان وارزوې او هغه دې وپيژنده چې د ملګرتيا لپاره نه دی جوړ، نو خپل ځان ته يې دښمن مـه ګرځوه او له دښمنۍ يې وويريږه!

۳٥. داسې تيز شه لکه باد؛ خپل اثر مه پريږده.

۳٦. څوک چې جګړه ګټي ، هغه ښه پوهيږي چې څه وخت جګړه وکړي او څه وخت يې ونه کړي.

۳۷. اتحاد د قوت لپاره اساس دی.

۳۸. ترټولو ستر بريا داده چې د دښمن مقاومت له جنګ پرته مات کړئ.

۳۹. کله چې دې خصم او جانب مقابل تيز او غوسناک وي، نو د هغه په تنګولـو او غوسـې پـارولو کـار وکـړه، خپل ځان کمزوری وښيه، ترڅو هغه خپل غرور نور زيات کړي.

٤۰. که ځان منظم او آرام ساتل غواړې، نو ددښمن په صفوفو کې غوغا، شورماشور جوړه کړه.

٤۱. ظروفو ته په کتو سړی بايد وخت په وخت خپل پلانونه او خطې بدلې کړي."صن تزو"

٤۲. کوم ګوزارونه چې ستا ملا ماته نه کړي؛ نور دې هم ځواکمن ګرځوي"عمر مختار"



# د خپل فکر او فرهنګ

## په اړه زموږ رسالت

محسن پکتین

د تېري کب میاشتي ۱۰ مه زموږ د هېواد په تاریخ کې بې ساري او بې سابقې وه، په دې ورځ افغانانو د الله تعالی په فضل او نصرت پر یوائې ځان د نړیوال طاغوت د امپراطورۍ جنازه خاورو ته وسپارله، کوم چې په اوس وخت کې یې د نن ورځې د نړۍ تر ټولو زیات نفوس جوړونکو مسلمانانو څخه لاهم تمه نه کېده.

دا چې یاده امپراطورۍ مو کوم ځای خاورو ته وسپارله؟ یو خو زما موضوع نه ده او بل پکې له دې وجې هم څه نه وایم چې زموږ خاوري ته د امپراطوریو د هدېرې نسبت شخصاً زه ښه نه ګڼم، زموږ په ټولنه کې هدېره د یو داسې ځای نوم دی چې د مرګ او مړو کور یادېږي، خلک یې پر بد پال نیسي، درنه او د ډار سیمه یې ګڼي، پکې ډارېږي او عام طور په ښه سترګه نه کتله کېږي، خو زموږ هېواد به د ۴۰ کلن ناورین له پای ته رسېدو وروسته نور د نوي افغانستان په توګه داسې نه وي.

که د نورو د عبرت لپاره د امپراطوریو هدېره ورته وایو لکه چې تر اوسه مو ورته ویل، نو نوي امپراطوران تبلیغاتي ګټه ترې پورته کوي، دوی خپلې لښکر کشۍ یو مشروع یرغل تبلیغوي او له پیله د امپراطورۍ نوم نه ور کوي یاهم د (د امپراطوریو هدېره) له نوم څخه لومړی تېکی لیري کړي او یوائې (هدېره) پاتې شي، او بیا هسې هم دلته ۴۰ کاله راسې پرلپسې جګړه روانه ده په ضمن کې یې پردیو زموږ په کور دننه ډېر د مړه احساس او ضمیر څښتنان هم روزلي.

نو امپراطوران او ملاتړي یې په دې جګړه او مړو ضمېرونو ځانونه تېرباسي، موږ ټول مړه ور ښکارو او ښه پر غټ او ډاډه زړه مو پر هدېره!! یرغل راوړي او بیا داسې پکې پر ګونډو شي لکه تازه چې صلیبي امپراطوري پر ګونډو شوه، نو په دې نوم کې هم زموږ تاوان دی او هم د دوی، لهذا یوائې دومره باید وویل شي چې د امپراطورۍ جنازه مو خاورو ته وسپارله، نور نه دغه قبر او خاوره او نه مو هم هېواد د امپراطوریو پر هدېره یاده شي، بلکې د شور او شرنګ، جوش او جذبو د څپاند سیند نوم یې د دواړو په ګټه، ورته نېک پال او زموږ هېواد یې وړ هم دی.

دا چې د غـــربي فکـــر او فرهنګ د پلي کولو په موخه امریکا دلته د خپل تاریخ په تر ټولو زیاته اوږده جګړه کې ښکېله پاتې شوه، زموږ یو نسل ورکې را لوی شو او اوس موځوانـانو کې داسي څـوک هم ترسترګو کېږي چې لـه خپل اسلامي فکـر او افغـاني فرهنـګ څخه د پردي والي احساس کوي او د خپل مذهب، دود او دستور، ویاړونو او ارزښتونو، ملي عنعناتو او اسلامي او افغاني تاریخ په اړه یې د پردیو لـه لوري ذهن تحریف او دا هرڅه ورته ناوړه، حساس او په بد شکل انځوروي، نو د خپل فکر او فرهنـګ بیـا رغـاوی او سـاتنه زمـوږ لومړیتـوب او تـر ټولـو ستر رسالت جوړېږي.

ډېری ځوانان مو چې د هېواد لـه اشـغال سره را لـوی شـوي خـو لاهم خپل اسلامي فکر او فرهنګ تـه ژمـن پـاتې او ډېـرو یې د دې ترخنګ د اشغال پر وړاندې وسله هم پورته کړې یایې پر یو ډول یاده مبارزه کې مرسته کړې ده، له پردي

فکر، فرهنګ، بېلاريو او بې حيايۍ څخه اغېزمن د اروپايي او هم سيمه ايزو هېوادونو له لوري روزل شوي او را لوی شوي ياهم د کمونيستي دور پاتې شوني او د پخوانيو کمونستانو اولادونه دي چې د هېواد او نړۍ په کچه په تر ټولو بې ضميره، بې وجدانه او غلامو څېرو پېژندل کېږي او بياهم د فکري تزلزل او تذبذب له امله د هرڅه قابليت لري چې امريکا پرې لازياته پانګونه وکړه او ترې د خپل فکري او فرهنګي يرغل د پرمخ وړلو او دوام تمه لري.

د راپرځېدلې صليبي امپراطورۍ سرخېل او همکاران يې فکر کوي ياد يرغل ته به د همغو غلامو څېرو په مټ چې په دې ۲۰ کاله جګړه کې يې کوتو ته ورغلي همداسي دوام ورکړي او په دې ډول به د ځينې سيمه ايزو او خليجي اسلامي هېوادونو په څېر افغانستان کې د جګړې ختمولو سربېره هغه تر فکري او فرهنګي يرغل لاندې وساتي، د امريکا جګړه ايز او هر اړخيز يرغل چې ګومه ملموسه لاسته راوړنه نلري شايي دوی خپل همدې خيال او محال ته د۱۸ کلنو لاسته راوړنو نوم ورکوي او خپلو همدغو محدودو شونو چې پر باطل فکر او د ناولې فرهنګ په رنګ يې رنګ کړي او پر هغو پوري ترلو هېلو ته يې د لاسته راوړنو نوم ورکوي.

خو دوی لاهم د شوروي له وسلوالې، فکري او فرهنګي هر اړخيزې ماتې عبرت نه دی اخيستی چې د همداسې يوې امپراطورۍ پر زور يې د کمونيزم ملحدانه فکر راوړی وه، خو څنګه چې يې غوښتل او اوسني غربيان يې په تمه راغلي و له څو کمونستانو او سيکولرانو پرته يې نور افغانان يرغمل او تسخير نکړای شول، خپل دغه پخ روان کړی فکري او فرهنګي يرغل پر تېره شل کلنه بايللې جګړه هم نه ور قياسوي چې له دومره اوږدې مودې درنو مرګژوبلو او زيانونو پر ته يې هيڅ ترلاسه نکړل، نور لا کوم څه پاتې دي چې دوی يې په تمه شي؟!

په داسې حال کې چې د کب ۱۰مې د طالبانو او امريکا ترمنځ تړون له مخې اشغال پای ته ورسېږي، د پرديو لاسوهنې بندي او مخنېوی يې وشي او بيا پر افغاني روحيه اسلامي نظام هم رامنځه شي، پېښي فکري او فرهنګي وېجاړۍ به هم له منځه لاړې شي او لا پراختيا خو به يې بالکل ناشونې وي، خو امريکايان لکه چې تر اوسه يې هم له ياد تړون څخه څو ځلې تخطی کړې شايي بياهم تمه لري له څه ټال متړل، تبليغاتو او په افغاني ټولنه کې دود کړيو غربي اصطلاحاتو څخه په استفادې به څه نور هم فکري يرغل ته دوام ورکړي.

تبليغات، پردي اصطلاحات دود کول او تګې برګې هغه څه دي چې د کمونيستي فکر په ترويج کې ډېر نه و کارول شوي، خو د صليبي امپراطورۍ بيا مهمه برخه وه او په راتلونکې کې يې هم د غربي فکر او فرهنګ په پنځولو کې د کارېدو اندېښنه کېدی شي، نو موږ په يوه داسي زماني مقطع کې قرار لرو چې تر بل هرڅه مو د خپلو خلکو فکري رغونه مهم او دروند مسئوليت جوړېږي، که په اړه يې لږ هم غفلت وکړو، له پردي فکر څخه اغېزمني غلامي څېرې هغه ته د پراختيا ورکولو لپاره ګټه ترې اخيستلی شي او څوک چې يې تر اوسه پر لوړه بيه له اغېز څخه خوندي شوي ترې اغېزمن کېدلی شي.

غربيان او پرديپال زموږ د وګړو له بېوزلی او ناداری څخه ناوړه ګټه پورته کوي، د لږ څه په بدل کې مو بشپړ فکر او فرهنګ، عفت او ننګ راڅخه اخلي، له همدې لارې يې تر اوسه هم ځيني اېل او بېل کړي، د کابل حکومت مړو، ژوبلو او اسيرو عسکرو ته خپل حق نه ورکوي، تداوي يې نکوي او يا يې د هغوی له کونډو تورسرو او يتيمو اولادونو څخه د جنسي- او نوري ګټې اخيستنې په بدل کې ډېر لږ څه ورکوي، له دې سربېره يې د جهاد، طالبانو او د هغوی د راتلونکې په اړه هم د دوی فکر تحريف کړی وي، د وژل شويو عسکرو د قاتلانو په نوم يې ور پېژني، د عسکرو له وژل کېدو وروسته د هغوی کورنۍ له طالبانو سره د يوځای کېدو چانس هم کم ويني او شايي تر اوسه يې طالبان د ځانته را نږدې کولو کوم ځانګړی پروګرام هم نلري.

نو که د پرديو او پرديپالو د ناوړه استفادې پر ځای يې له دغه ابتر حال او بې اسرې والي څخه

طالبان پـه دې نزاکـت کې د دوی پـه ګټـه اسـتفاده وکـړي، (لکـه د عسکرو جلب او جذب) د دعوتي او مرستندویه برنامو له لارې یې په حکمت سره د جاهلي غیرت او اختلاف پالنې مخنیوی وکړي، ځانته یې را نږدې او له خپل لوري ډاډ ورکړي، د خپلو ظروفو او امکاناتو په تناسـب یې د ژونـد پـه مهمـو برخـو (پېښـه، سرپناه، قـوت لایمـوت، درملنـه) کې لاسـنیوی وکـړي، اولادونـو تـه یې پـه سـیمه ایـزو مدرسـو، مکتبونو او یاهم ځانګړو یتیم خونو کې د زدکړو زمینه برابره کړي او...

د هغـوی پـه فکـري رغونـه کې بـه خـورا ګټـور تمـام شي، د پردیـو او پردیپالو له لوري ور پېچکاري شوې ټولې سوالې او اندېښنې به یې ځواب شي، هغه وګړي او یتیمان چې بېلاریتوب او له پردي فکر او فرهنګ څخـه د اغېزمنتیا اندېښـنه او چانس یې د نـورو پـه نسـبت زیات وي بشپړ به په خپل فکر او فرهنګ وروزل شي، د مسلمانو یې اسرې کونډې او یتیمانو زړونه به را خپل او ښاد کړي او په ټوله کې به یې د۲۶ کلن جهاد موخو ته په رسېدو کې یو مهم ګام او لاسته راوړنه وي.

پردی فکر او فرهنګ ځوان کول او نوی نسل تر بل هرڅا زیات ګواښي، که د اشغال خاتمې له تړون وروسته بیاهم زمونږ ترمنځ د پردیو اصطلاحاتو کارېدل دوام پیدا کړي، زر ترزره د هغو پر ځای د خپل فکر او فرهنګ اصطلاحات په بشپړ ډول عملي نشي-، د پردیـو بـېلاري کونکـو او فکـري وېجاړې رامنځتـه کونکـو تبلیغـاتو تـه ځـواب ونـه ویل شي او د ځـوان کول او نـوی نسـل د پوهـاوي لپاره اغېزمنې برنامې رامنځته او پر کا وانـه چـولې شي نـو خدای مکړه بدي پایلې به ولري.

په داسي حال کې چې امریکا له طالبانو سره د اشغال د خاتمې تړون لاسلیک کړی، طالبانو هم د خپل شخصي. دریځ له مخې د کابل حکومت پر عسکرو بریدونه کم کړي او هغوی هم نه ثمه لري چې یا له طالبانو جګړه وکړي یا یې پر وړاندې کومه لاسته راوړنه ولري، بیاهم چې د امریکایانو له لوري حتی له تړون څخه د تخطی رول ورکول کېږي او مزدور چارواکي یې عملي کوي یوه موخه یې د کابل حکومت پر ضد طالبان غبرګون ته اړ ایستل کېلی شو چې بیا ورتـه منفي تبلیغـات هـم وکـړې او لـه دې لارې د افغانـانو پـه دې حساس او نازک پړاو کې د طالبانو او هېواد د راتلونکي په اړه د ولس او د ځوان نسل فکر مغشوش او ګډوډ کړي.

خو دا چې طالبان دا هرڅـه څاري، شته نزاکتونـه په پام کې ساتي او دا ډول کړنو ته ښه ځواب ویونکي دي، د کابل له حکومت څخه په کار اخیستنه د تړون له قراراتو د امریکا ګټو سرغړونو، په ښه توګه د تړون عملي کېدو په لاره کې یې خنډونو رامنځته کولو او طالبانو او ولسي. وګړو ته پرلېسې. مالي او ځاني زیانونو اړولو سربېره طالبانو تـرې لاس رانیـولې، بلکې لا دغـه مـزدور دښـمن تـه بیـا بیـا عمومي عفوه هم اعلانوي، پرې د تسلیمۍ غږ کوي او پر خپل ټول تــوان یې د پوهــاوي او د پردیــو دسیسـو تـه د متوجـه کولـو زیـار باسي او پکې تر ډېره بریده بریالي هم برېښي. چې په دې وروستیو کې پـه ورځـني ډول لسـګونه عسـکر، پـولیس او اربکیـان ورسره یـو ځـای شوي او لا هم دا لړۍ دوام لري.

زمـوږ بـا احساسـه ځوانـان، مـدني او د ټـولنیزو رسـنیو فعـالان، لیکــوالان، ژورنالســتان او عــام اسلامپال پـوهمین کدرونه دې په پــام کې لــري لکــه څرنګــه چې تبلیغات او د ژوند هر اړخېزو چارو اړونـد اصـطلاحات پــه فکــر او فرهنګ تـر بل هرڅـه زیات اغېز لري باید ورته جدي متوجه وي، څرنګه چې په حساس پړاو کې یـو هغسي- دې د پردیـو د تبلیغـاتو پـر وړانـدې حسـاس اوسي، پـه خپلـو لیکنـو او څرګنـدونو کې دې پـردي اصطلاحي ټکي او اشاري نښې- نـه کــاروي، بلــکې خپـــل هغــــه اصطلاحات دې وکاروي چې دیني او کلتـوري صـبغه ولـري او د دې ترڅنګ د عام وخاص وګړو، ځوان کول او د پردیو او پردیپالو د فکري تخریبکارۍ ښکار شـویو هغـو پـه پوهــاوي کې دې خــپلې هــڅې نــه ســپموي ترڅـو د ژونـد پـه هــیڅ برخـه کې مـو پـردي اصـطلاحات او تقلیـد پـاتې نشي- او خپـل فکـر او فرهنګ پـه رغاوي او ساتنه کې هم بریالي را ووځو.

پــه همــدې هیلــه......پای



# دکابل اداره په کوم جرأت

## دسولې تړون سبوتاژ کوي؟

حسن مومند

دقطر مرکز دوحه کې دفروری په ۲۹ مې نېټې داسلامي امارت اوامریکا تر منځ رامنځته شوی تړون دافغانستان دستونزې دحل په لار کې ډېر ستراقدام ګڼل کېږي او له ځومغرضو عناصرو پرته یې ټوله نړۍ دجانبینو لپاره خورا ګټور ګڼي.

نوځکه افغان ولس پر دې هوکړې خپله ډېره زیاته خوښي ښکاره کړه ؛ دهېواد په ګوډ ګوډ کې ددې تړون نه په ملاتړ کې پراخې غونډې جوړې شوې ؛په سیمه ایز او نړیواله کچه ترې پراخ حمایت رامنځته شو اودملګرو ملتونو د ادارې له لورې یې هم تائید رامخې ته شو چې دا ددواړو اړخونولپاره دخوښۍ او اطمینان خبره او ددوئ دشوي دې اقدام دمعقولیت دلیل و .

خو متأسفانه چې امریکا په پرلپسې توګه پخپله او دکابل رژیم په توسط له شوې معاهدې نه سرغړونې کړي او لا یې هم په فوځي اوسیاسي برخه کې تخطیانې رواني دي.

په ولسي وګړو دبمبار اوشپنو چاپو ودرول دتړون خورامهم ټکی وچې دتړون په رومبنو شپو ورځوکې وربانـدې عمـل هـم کېـدلوخو اوس بیـا بهرنیـانو او داخلي ګوډاګیانو دهېواد په لر اوبرکې په ډېر وحشت زمونږ دمظلومو هېوادوالو دقتل خونخواره لړۍ پیل کړیده.

همدا راز تړون کې په روښانه ټکو راغلي دي چې دمارچ په ۱۰مې نېټې به بین الافغاني مذاکرات پیل کېږي اودبین الافغاني مذاکراتو له پیل نه وړاندې به ۵زره طالب قیدیان ازادېږي .

دیادولو وړ ده چې دتړون درامنځته کېدو نه وړاندې زلمي خلیلزاد دتړون مسوده دکابل ادارې ته وربښوولې هم وه ؛ هغه مهال دکابل ادارې هیڅ اعتراض نه و راپورته کړی.

خو له بده مرغه چې دکابل ادارې په ډول ډول پلمو دبندیانو دازادۍ خبره وروسته کړه چې له امله

يې بين الافغاني مذاکرات هم تردې دمه چې دخپلې نېتې نه يې کابو يوه مياشت تېرېږي ندي پيل شوي.

اوس چې دخپلو بنديانو دتشخيص لپاره داسلامي امارت دبنديانوکميسون له قندهار نه خپل يودرې کسيزتخنيکي ټيم ولېږلو نو بيا دکابل اداره په نا معقولو پلمودبنديانو دآزادۍ پروړاندې خنډونه رامنځته کوي چې دا کار دټرون نه صريح سرغړاوی او دټرون دسبوتاژ کولو په معنی دی نو ځکه اسلامي امارت د کابل ادارې سره دبې ګټو ناستو نه خپل ټيم منع کړی او ورته يې دکابل نه دستنېدو حکم کړيدی.

تېره ورځ چې دامريکا دباندنيو چارو وزير مايک پومپيو ديومطبوعاتي کانفرانس په ترځ کې دکابل ادارې مشرانو ته دخپلو اختلافاتو دختمولو اودطالبانو سره خبرو ته دکيناستلو دحکم ترځنګ دا ويلي دي چې موږ دطالبانو سره کړو ژمنو ته متعهد يو، دابنه خبره ده خو امريکا بايد په عمل کې هم خپله ژمنتيا وښايې.

که امريکا رښتيا هم خپلو تعهداتو ته ژمنه وي نو ولې ولسي وګړي وژني ؟ او ولې خپل غلامان دبنديانو دمنل شوې خبرې په هکله تخطۍ ته پرېږدي ؟ آيا دکابل اداره دهغه څه سره مخالفت ښکاره کولی شي کوم چې امريکا منلی وي ؟

داسلامي امارت مشران پدې ډېر ښه پوه دي چې نن ورځ په نړۍ کې دقول اوفعل ډېرلوی تضاد شتون لري ؛ دنړۍ لوی ځواکونه چې کومې نارې او دعوې کوي عمل يې ترې ډېر بدل دی ؛ په نړۍ وال قانون کې نه قانون اوقانونيت ته په درنه سترګه کتل کيږي ؛ نه په وعدو اومعاهدوباندې دوفا اواخلاقومفهوم داهميت وړدی ؛نه ګاونډاوسيمه ايزتوب ته کوم ارزښت ورکول کيږی اونه هم رښتيا انساني عواطف اوبشري نورمونه په پام کې نيول کېږي ؛ دننني سياست په دايره کې دنړۍ هيوادونه دمعقولو،قانوني اومنطقي پرېکړوپرځای يواځې دخپلوګټوله مخې مهم تصاميم نيسي۔ نوځکه ويل کېږي چې نه په اوسني سياست کې دايمي دوست شته اونه هم تل پاتې دښمني شته .

يانې ددوستۍ او دښمنۍ اصل دارومدار په په مادي ګټودی .

په ۲۰۰۱ م کال کې پرافغانستان د يرغل پرمهال دډيپلوماتيکواونا انډوله تبليغاتي هلوځلوترځنګ دنظامي اخطارونواوګواښونو له امله ګڼ شمېرمغرض غربي هيوادونه په خپله خوښه دنارواجګړې برخه شول.

اوهمدې ګواښونو او څه اقتصادي موخو دنړۍ او سيمې يوشمېرکفري اوغير کفري هيوادونه هم دې ته اړ کړل چې پدې ناروايرغل کې دامريکانظامي اوسياسي ملاتړوکړي او دامريکا يرغل ته مناسب شرايط برابرکړي

؛ دامريکادناروايرغل او وحشي۔ کړنو په مقابل کې افغان مسلمان اومبارزملت په ټول قوت سره يرغلګرواودهغوداخلي غلامانوته داسې تاريخي درسونه ورکړل چې هيڅکله به ترې هېرنشي.



نو پرون دامریکارعب اوځواکمنی. دا ایجابوله چې که څوک غواړي اویانه غواړي باید ورسره په نارواجګړه کې یوځای شي خونن هرڅه په بې ساري توګه بدل شوي دنړۍ په کچه مطرح ځواکمن قوتونه اودنړۍ په اقتصادي اونظامي تصامیموکې سرنوشت ټاکونکي هیوادونه څمکنیوواقعتونوته په کتوپه څرګندېدول دافغانستان اسلامي امارت ته نه یواځې دیومشروع ځواکمن حاکمیت په توګه ګوري بلکې دحقایقوپه رڼاکې دطالب برحقه داعیه مني او په سیاسي اونظامي ډګر کې دنړۍ دترټولو سترزبرځواک ماتونکي نظامي اوسیاسي قوت په توګه ترې ملاتړهم کوي. سیمه ایزستر اومطرح ټول هېوادونه دسیمې روان سیاسي اونظامي وضعیت په دقت څاري ؛دوئ په سمه توګه درک کړې چې دطالب دقوي ګزارونوپه نتیجه کې امریکااوخارجي اوداخلي همسنګران یې دذلت په وروستي حدکې قرارلري

؛دوئ دامریکادنظامي شتون په موقتي اودایمي خطرونودقیق خبر اوپه عواقبویې پوهېږي نوپه دې برخه کې یې دریځ هم یودی ؛ اوس دامریکاد نظامي شتون پرضدپه سیمه کې یوه قوي اجماع رامنځته شوې نورنو سیمه ایز کوچني اوسترهیوادونه په هیڅ دلیل دامریکاپراخ نظامي شتون نه یواځې منلی نه شي بلکې دسیمې لپاره یې سترخطر ګڼي.

موږ پدې ډېر ښه پوهېږو چې دامریکایې فوځي ځواک مورال دومره لویدلی دی چې نوریې دمجاهدینو په مقابل کې دمخامخ جنګ کولو توانمندي له لاسه ورکړیده او همدا راز دکابل اداري هم نور په تمامه معنی اعتبار له لاسه ورکړیدی نو ډلې ډلې افغان ځواکونه طالبانوته تسلیمېږي چې ورسره په ډېرې تېزۍ دکابل اداره دخپل طبعي مرګ پر لور روانه ده اوبل لورته دفاتحو مجاهدینو مورال ډېر قوي دی چې دا داسلامي امارت لپاره ډېر داطمینان نه ډک حالت دی خو داچې داسلامي امارت قیادت دشرعي اصولو له مخې ددښمن سره دکړو وعدو ژمنتیاته ځان مسئول بولي اودهېواد او ولس خیر ددې ترون په بقاکې ویني نو له خپل لورې یې ماتېدو ته نه پرېږدي اوکه مقابل یې خامخا ماتوي نو پروایې نه لري ؛ ددښمن پرضد هسې هم مقدس جهاد روان دی او پدې میدان کې یې شکست هسې هم یقیني دی.

ننی پراخ سیمه ایزاونړیوال تحلیل هم همدادی چې که امریکا وضعیت سم درک نکړي ؛په سوله ایزه توګه افغانستان اوسیمه خوشې نکړي اودتېرونولسوکلونوپه څېرپه سرتمبګۍ وخت اوفرصت ضایع کړي نویقیني ده چې امریکااوناټوبه دابرومندانه وتلو پر ځای دعلني رسوایۍ سره مخ شي چې وتل به یې بیا دویتنام نه هم بد تر وي

دا اوس دامریکاپه نظامي اوسیاسي ستراتیژستانو ده چې دروان سیاسي اونظامي وضعیت په سم او دقیق درک سره په ابرومندانه توګه خپلې ماتې ګوډې او مورال بایللې قواوې خپل هیوادته وروغواړي او که په سیاسي اونظامي ډګرونو کې امریکا دلوېې رسوایۍ سره مخامخ کوي




# دکب د لسمي تړون

## د خپلواکۍ او سوکالۍ ضامن دی

م مبصر

د تېر کال د حوت ۱۰مه یوه تاریخي او له ویاړه ډکه ورځ وه. په دې ورځ د افغان ولس د درنو قربانیو له برکته نړیوال زبرځواک د خپلې ماتې پر سند لاسلیک وکړ، او له خپلو ټولو اشرګړو سره له افغانستانه وتلو ته تیار شول.

له امریکا سره د کب په ۱۰مه د اسلامي امارت هوکړه افغانستان ته هغه استقلال بېرته را اعاده کوي چې اتلس کاله وړاندې د ځینو ناخلفو په ملاتړ یرغلګرو تروړلی و. په دې تړون باندې په امضا سره یرغلګرو هوکړه وکړه چې نور به د افغانانو پر کورونو تعرضي بمبارونه نه کوي، چاپې به نه وهي او نه به هم نور افغانان لاسترلي د شکنجو مرکزونو ته بیایي - بلکې زرګونه هغه بندیان به راخوشي کوي چې له استقلال غوښتنې پرته یې بله هیڅ ګناه نه وه.

په لنډو کې ویلای شو چې دا تړون له افغان ولسه هیڅ نه اخلي، د افغان ولس ټول دیني او ملي ارزښتونه خوندي کوي. اما دا هوکړه له هغو خلکو هر څه اخلي چې خپل هېواد یې پر پردیو باندې وپلوره او په داسې حال کې لا هم د پردیو د اهدافو په پوره کولو بوخت دي چې پخپله هغوی نور لاس اخیستی دی.

دا چې له امریکا سره د اسلامي امارت هوکړه دې یوازې پاتې شویو اشخاصو ته سراسر تاوان دی، نو ځکه یې پر وړاندې متې رانغاړلې او په یوه بله بهانه یې د تخریبولو هڅې کوي.

د کب د ۱۰مې هوکړه د افغانستان د ستونزې اساسي حل ته چې هغه د خپل هېواد د برخلیک ټاکلو په اړه د افغانانو خپلمنځي تفاهم دی لاره هواروي. اما د دې خبرو تر پیل وړاندې د لومړنیو شرطونو د پوره کېدو په مخ کې، چې پوره کېدل یې افغانانو ته له خوښۍ پرته بل څه نه ورکوي، د خنډونو ایجاد د هېواد بحران ته د پای ټکي اېښوول کېدو په لور د ګامونو پورته کېدل ځنډولي دي.

دا خنډونه هماغه اداره جوړوي چې چارواکو یې دمګړی هېواد د نړۍ تر ټولو ناامنه او وېرووونکی ملک جوړ کړی او د فاسدترینو او غریبترینو هېوادونو په کتار کې یې درولی دی. له کابل ادارې پرته به بل هیڅ افغان ونه غواړي چې هېواد دې استقلال ونه لري، افغانان دې د فاسدترینو وګړو په حیث وپېژندل شي او د ترهګرو په نوم دې وژل کیږي او کورونه دې یې ورانیږي.

له هر څه سره سره، اسلامي امارت لا هم خپله غېږه هغو خلکو ته پرانیستې پرېښې چې له تېرو کړو توبه باسي او د یوه سوچه اسلامي نظام تر سیوري لاندې ژوند خوښوي.

اوس د هغو خلکو د منزوي کولو او پرېښوولو وخت رارسېدلی چې د خپلو شخصي ګټو لپاره په هېواد کې ناورینونو او بدبختیو ته لمن وهي. د کب د ۱۰مې تړون د خپلواکۍ او سوکالۍ په لور د افغانستان د وړلو ضامن دی -- هغه وخت به لا ژر د یوه اسلامي او سوکاله هېواد جوړولو ارمان ته ورسېږو چې تخریبکاران مختور او پرېښوول شي او د هېواد د ازادۍ او رفاه لپاره د ژمن امارت لاسنیوی وشي.



# عسکر ته!

کفایت الله شباب

ته یو ځل له ځانه وپوښته چې څوک یې، د کوم هیواد یې، د څه په خاطر، د چا لپاره او د چا په مقابل کې جنګیږې؟

ایا تر اوسه دې د هغه خیالي شعار چې د قدرت د مینانو، ماده پرستانو او غلامانو له لوري درکول کیږي پر بنسټ د هیواد د کوم دښمن په مقابل کې جګړه کړې؟ ایا تر اوسه دې له خپلو ارزښتونو دفاع کړې؟

ایا ستا تر کنټرول لاندې سیمو کې غلا، زنا، لواطت، اخلاقي فساد، ترور او نور ظلمونه شتون نه لري؟

ایا ته د قدرت د مینانو د هوس او قدرت د بقاء لپاره نه استعمالیږې؟

ایا تر اوسه دې له کوم ظالم څخه د مظلوم حق اخیستی؟ نه

نو اې د امریکا په لاس د جوړې شوې ادارې عسکره! که لېږ هم پوهیږې، نو ځان له شرمونکي انجام څخه وژغوره. هغه مشران چې نن یې ته د قدرت د بقاء لپاره جګړه کوې، که چېرته پرې زور راشي او د امریکا مرستې ورسره ونه شي، هر یو به یې خپل دوهم کور ته ځي او ته به ملت ته خر مخی پاتې یې او په ټیټو سترګو به ژوند کوې. ځکه هر یوه یې په وارو- وارو اعتراف کړی چې افغان عسکر د نړیوالو د امنیت او هوساینې لپاره په افغانستان کې جنګیږي. دوی رښتیني دي؛ ځکه ته د خپل ټاټوبي د ورانولو په بیه د نړۍ د مستکبرینو امنیت ته قربانوې ورکوې.

تا د ولس د ښمنې او وژنه پر غاړه اخیستې ده.

نو ته فکر وکړه چې ستا جګړه او سر تېرېدنه د چا لپاره شول؟

تـا ولېـدل چـې سـتا قومنـدان سـتا د همسـنګر له مرګه وروسته د هغـه لـه کونـډې ښځـه د ډوډۍ پـه بدل کې د جنسي غريـزې د اشـباع غوښـتنه وکـړه او غوغـا یـې رسـنیزه شـوه؟ همدغـه د دوی وفـاداري او ستا د وینو قدرداني وه!

نړیوالـو خـو پرتـه لـه هغـه هـم سـتا پـر اوږو ۱۸ کاله خپل ټوپک وچلاوه او خـــپلې ځینـــې شـــومې مـوخې یـې ترلاسـه کـړې. ستا په ملګرتیا یـې زرګونـه افغـان ښـځې او ماشـومان شهیدان کړل؛ خو له غرب څخه راغلو ستا مشرانو تـه وغندلې او هغوی ته یـې د اکبرخان، جان محمد خـان او نـــورو اتلانـــو مډالونـــه ورکړل.

اې ته خبر یې چې همدغه سـتا بادارانو سـتا د جاسوسـۍ پـه مټ د څـومره نـاخبره او بـې ګنـاه افغانـانو پـر کورونـو پـه نیمـه شـپه هجوم ور ووړ او د هغوی نازدانه بچیان یې شهیدان کـړل؟ سـتا هغـه د زنګاوات، نوزاد، جغتو، ګیزاب او نورو سیمو ډله ییـزې وژنې هیـرې شوې؟ چې ستا مشرانو به یې پر سر امتیاز او رتبـې واخیسـتې او تـا به یا ورته جاسوسي کوله او یا به دې هم ورته د لارو امنیت نیـوه. تـا ونه لیدل چې ستا تر مخ یې ستا د مقدساتو سپکاوی وکـړ او تـه بـه دې خپلو مشرانو لا هم مجبورولې چې ورته سلامې ووهې؟ هغه دې هیر شول چې سـتا د همسـنګرو پـر پوسـتو بـه بمبـارد وشـو او سـتا مشرانو به ورته ویل چې پروا نه کوي؟

نو اې عسکره! ته یـې پـوره ۱۹ کالـه د خپلـو مظلومـو او مؤمنـو وطنوالو پر ضد استعمال کړې او لا دې هـم اسـتعمالوي او د یـو نـس ډوډۍ او لـس زره معـاش پـه بـدل کـې دربانـدې خپـل هیـوادوال شهیدانوي او هره ورځ درته دا شعار او روحیه درکول کیږي، چـې تـه د دیموکراسـۍ او غـلام نظـام سـاتونکی یـې او دلتـه د کفـارو لـه دښمنانو سره جګړه کوې او د هغوی د پلیتې مفکورې د ترویج لپـاره مبارزه کوې او... !

## نور بس کړه!

خپلـه موخـه وپیژنـه؛ خپـل دوسـت- دښـمن وپیژنـه؛ پـر ځـان- کورنۍ رحم وکړه؛ د الله تعالی او افغان ملت له دښمنۍ لاس واخله!

له غرب او نورو کفري هیوادونـو څخـه د راغلیـو، ګمـراه شـویو، بې لارې شویو او کفر ته د ژمنو جاسوسانو او د اشغال د مـامورینو د هوس او قدرت د بقاء لپاره ځان په هلاکـت کـې مـه اچـوه او د خپلـو هیوادوالو له دښمنۍ څخه لاس واخله!

همدغه پردي جاسوسان او مزدوران به تر یـو وختـه سـتا ملاتـړ وکړي؛ خو اخیر به دې د انګریز او شوروي د غلامانو په څیـر د ملـت محکمې ته پرېږدي او دوی بـه پـه کفـري هیوادونـو کـې خپـل ژونـد تیروي!

حسن زوی

# راتلونکی رمضان

## او داوس وخت غوښتنه

رجب ووت ؛ دشعبان المعظم میاشت داخله شویده او رمضان المبارک چې دټولو میاشتو امامه او سرداره ده دخپلو ټولو رحمتونو ، فیوضو، برکتونو، عظمتونو ، حرمتونو ، روحاني خوښیو اومعنوي مستیو سره یوځای دټولې نړۍ مسلمانانو ته د هسک له افقونو دخپل دیدار شرف ښښلوته تیاری نیسي .

چې مورچل چاپ او ترمحترمو لوستوالو ور رسیږي دشعبان المعظم وروستۍ ورځې به وي بلکې په وتو به وي او درمضان مشکو او عنبرو به ټوله فضا معطره کړی وي؛ سرکش شیطانان به تړل شوي وي ؛ دجهنم دروازې به بندی وي ؛ دجنت ۸ واړه دروازې به خلاصې شوې او دریان دروازه د روژه تیانو لپاره ښه مزینه شوي وي .

له خپل رب نه غواړو چې تر رمضان مو ژوندي ولري او ټول خیر اوبرکت یې رانصیب شي .

**انسانانوته دکائناتو دخالق له لورې رمضان المبارک دخورالوی انعام او اکرام نه ډکه یوه داسې عظیم الشان تحفه ده چې دمرتبې ، قدر ، منزلت ، عظمت ،عزت او شان بیان یې دقلم او ژبې له توان نه وتلی خبره ده.**

دا میاشت د تقوی ،دالله تعالی د وېرې ، دصبر ، ایثار ، قربانۍ ، تسلیم ، رضا ، عفوې ، تېرېدنې ، استغنا ، قناعت ، دزړونو دپاکۍ ، دروحونو دتزکې او دنفس سره دمقابلې اوجهاد میاشت ده .

دامیاشت دگناهونو په سوزونکي لمر کې هغه یخ سوری دی چې درحمت او فرحت هواگانې یې دبندگانو گناهونه دخزان رژېدونکو پاڼو رژوي.

**رمضان المبارک دگناهونو په لوی صحراکې سرگردانو انسانانو ته هم په خپلو گناهونودندامت احساس ورکوي او پردې نادمو انسانانو خپل ندامت له اسمان نه دتېزباران په څېر دبې حده زیاتو برکتونو ،رحمتونو اومهربانیو سبب گرځي .**

رمضان المبارک درحمت ، مغفرت ، نجات او خیر هغه پسرلی دی چې دعالم رحمت صلی الله علیه وسلم

به يې راتلو ته په سخت شوق او تلوسه کې و ؛ لا دوه مياشتې وړاندې به يې ورته تيارى پيل کړ ورته درسېدو دعاوې به يې کولې او درجب المرجب دمياشتې دليدو سره سم به يې فرمايل: اللهم بارک لنا فى رجب وشعبان وبلغنا رمضان .( يا الله په رجب او شعبان کې راته برکت واچوې اوتررمضان مو ور ورسوې )

دسيدنا سلمان فارسي رضى الله تعالى عنه نه روايت دى چې دشعبان په وروستۍ ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمانانوته په خطاب کې وفرمايل : اى خلکو!پرتاسې يوه دعظمت او برکت مياشت راغله ، ددې مياشتې يوه شپه (ليلة القدر) دزرو مياشتو نه غوره ده ؛ ددې مياشتې روژې الله تعالى فرض کړيدي او ددې په شپو کې د الله تعالى په دربار کې قيام ( تراويح ) يې نفل ګرځولې (چې ډېر زيات ثواب لري) ؛ څوک چې پدې مياشت کې د الله تعالى د رضا او دهغه دقرب حاصلولو په هدف غيرله فرضو(سنت يا نفل)عبادت وکړي نو دابه داسې وي لکه په نورو وختونو کې يې چې فرض اداکړى وي (دفرض ثواب به ورته ورکړل کېږي ) اوچاچې پدې مياشت کې يوفرض اداکړ داسى ده لکه په نور وخت کې يې چې ۷۰ فرضونه ادا کړى وي. او داد صبر مياشت ده او دصبر ثواب جنت دى او دادمواساة مياشت ده او دا هغه مياشت ده چې دمومن رزق پکې زياتېږي.

چاچې پدې کې چاته روژه ماتى ورکړدابه يې دګناهونو دبښنې سبب شي او دا به يې داورنه دازادۍ سبب شي او ورته به دهغه (چاته يې چې روژه ماتى ورکړى ) دثواب برابر ثواب ورکول کېږي بې له دې چې دهغه له ثواب نه څه کم شي ؛ موږ عرض وکړ موږ هر يو دروژه دار لپار روژه ماتى نه لرو .

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې الله تعالى دا ثواب هغه چاته هم ورکوي چې د شودو او اوبو مخلوط مشروب يې پرچا وڅښولو يايوه خورما يا يو ګوټ اوبه؛ او چا چې روژدار موړ کړ الله تعالى به يې زما دحوض په اوبو داسې خړوب کړي چې بيابه تګى نه شي تردې چې جنت ته داخل شي.

او دا داسې مياشت ده چې اول(اوله لسيزه) يې رحمت دى اومنځ (دوهمه لسيزه) يې مغفرت دى اوآخر(وروستۍ لسيزه) يې دجهنم د اور نه ازادي ده؛ اوچاچې دخپل مملوک (غلام ياوينځې ) نه بوج سپک کړ الله تعالى به يې وبښي او دجهنم د اور نه به يې ازاد کړي .

پورته حديث درمضان دفضيلت په هکله ډېر جامع حديث دى او دهرې جملې مفهوم يې هم ښه روښانه دى ، شرحې ته پکې اړتيا نشته .

بس اوسنو حالاتو ته په پام سره يواځې د(شهرالمواساة) جملې وضاحت اړين بولم

دمشکاة المصابيح شرحې مرقاة المفاتيح کې ملا على قاري رحمه الله دمواساة معنى داسې کوي المواساة : المساهمة والمشارکة فى المعاش والرزق، فيه تنبيه على الجود والاحسان على جميع افرادالانسان لاسيما على الفقراء والجيران .

يانې دمواساة اصل معنى شريک کېدل اوسهيم ګرځېدل دي ؛ناداره خلک داسې دي لکه دبډايو خلکو سره چې په مال کې شريک وي .

یانې پدې میاشت کــې بــه بــدای خلــک دنــورو میاشتو په پرتله ډېر انفاق کوي او داسې به ګڼــې لکــه چې فقیران او ګاونډیان ورسره په مال کې شریکان وي

غریبان ، فقیران خلک او خصوصاً هغــه خلــک چې دکور ګوزاره یې په روزمره مــزدورۍ روانــه وي دکورونا مرض دخپرېدا او دکارونو دبندېــدا نــه پــس دافقیران په ډېر بد حالت کې دي او ولې به نه وي چې دیوې ورځې دمزدورۍ نشتوالي لــه املــه یــې ژونــد اغېزمن کېږي نــو طبعــي ده چــې ددې دومــره اوږد تعطل او بې کارۍ له امله به یې ژوند د ډېــرو زیــاتو مشکلات سره مخامخ وي.

درسول الله صلی الله علیه وسلم یو بــل حــدیث راوړل هم مناسب بولم .

ابو هریرة رضی الله تعالی فرمایي : قال رســول الله صلی علیه وسلم المســلم اخوالمســلم لا یظلمــه ولا یخذله ولا یحقره بحسب امرء من الشر ان یحقر اخــاه المسلم . رواه مسلم

ژباړه :رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایــل :مسلمان دمسلمان ورور دی ؛ پر هغه ظلم نه کــوي ؛ نه هغه بې مرستې پرېږدي ؛نه یــې ســپکاوی کــوي ؛ مسلمان ورورته په سپک نظــر کتــل دســړي دشریــر کېدلو لپاره کافي ده .

د (ولا یخذله) وضاحت علماء داسې کوي یقــال خذل فلانا وعنه تَخَلّی عن عونه ونصرته .

وفی التنزیل العزیز (وان یخذلکم فمن ذا الــذی ینصرکم من بعده )

یانې عربی کې چې خذل فلانا یاخذل عن فــلان وویل شي نومعنی یې دا وي چې دهغــه مرســته یــې ونکړه :بې یار ومددګار یې پرېښود لکه په قــرآن کــې هم په همدې معنی کې استعمال شویدی .

موږ یوډېرغټ کــلي کــې اوســېږو پنځــه ســتر جوماتونه لري اود امامانو په خپل منځ کې ښه روابــط دي نودټول کلي دحالت نه ډېــر ښــه خبرېــږو؛ دکــلي ودانۍ چې ښــه مناســبې دي ،غریبانــه نــدي نــودکلي ظاهر داسې ندی چې څوک ګومان وکــړي چــې ګینــې څوک غریب به ولري خو په اوسنوحالاتو کې چې ټــول خلک په کور کېناستل نو دګڼــو تنــانو داقتصــادي بــد وضــعیت نــه خلــک خــبر شــول ؛ دکــلي څــو علماءواوبااحساسه ځوانانو پرېکــړه وکــړه چــې دکــلي داسې څوغریبو تنانو باندې چې د دوکاندارانو پورونــه اوښتي وي هغه به موږ اداکړو ؛ چې شروع یې وکړه له سلو زیات داسې تنان معلــوم شــول چــې نــور ورتــه دوکانداران څه پــه پــور نــه ورکــوي نــو دې علــماءو اوځوانانو مجبوراًپه کلی کې چنده وکړه او نن یې ۱۱۸ داسې غریبو کورنیو باندې خوراکي مواد وویشل .

همدانن موږ کره دګاونډ یوه داسې مېرمن راغلی وه چې مېړه او ۳زامن یې مزدوري کوي خوزموږ وړو ته یې ډېر لرې ځای یاد کړ چې مخکې پکې اوسېدلي یو نو دهغه ځای دیو دوکانــدار نــه مــو اوره قــرض راوړل .

روژه کې خو هسې هم کارونه کم وي او داځــل له روژې مخکې هم دا حالت دی نوځکه په راتلــونکې روژې کې دبل هر ځل نه زیــات پــه مواســاة بانــدې دعمل کولو اړتیا ده .

کونډې ، یتیمان اونورفقیران که موله پامه وغورځول نوبې یارومددګار به مو پرېښي وي اوبیابه ددې وړ نه یو چې دعملي مسلمانۍ دعوه وکړو .



# په جهاد کې زموږ اخلاق

## شهادت ته تیاري

■ لیکوال: محمود محمد الخزندار
■ ژباړه: احمدحمزه

### که جهاد او صدقه نه وي نو جنت ته تګ هم نشته!

مرګ د هر مخلوق لپاره حتمي لیکل شوی او د شهادت مرګ تر ټولو غوره قسم دی، الله تعالی خپلو خوښو بندګانو ته شهادت ورکوي . مومن په هر حالت کې پدې مامور ده چې مرګ لپاره تیاری ولري؛ نو که څوک د شهادت تمنا لري، هغه په استعداد کې له ټولو باید مخکې وي او هغه باید پدې ښه پوه وي چې الله تعالی هغه ته غوره والی ورکړی وي.

په رښتیا چې د خپلو ملګرو په اړه د ډېرو خلکو فراست رښتیا وخیځي چې دهغوی د شهید کېدلو توقع یې کړې وي، کله چې په هغوی کې ظاهري اصلاح ووینې، دوی کې د شهادت توقع داسې وي لکه طلحه رضي الله عنه باره کې چې ویل شوي چې: «**شهيدٌ يمشي على وجه الأرض**» شهید دی، (خو) په ځمکه ګرځي. یا په بل روایت : «**هذا ممن قضى نحبه**» دا له هغو دی چې اجل یې پوره شوی.

نو موږ به ددې رښتني حقداره وګرځو، ترڅو د همدغې لارې لاروي وګرځو، شاید الله تعالی د شهادت له ډولونو څخه یو ډول شهادت راپه نصیب کړي، نو د شهادت لپاره تیاری او استعداد به څنګه کوو؟!

د شهادت لپاره لومړی تیاری توبه صادقه (رښتینې توبه) ویستل دي، په حدیث کې راځي: «**يضحك الله إلى رجلينِ يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة؛ يقاتل هذا في سبيل الله فيُقتَل، ثم يتوب الله على القاتل فيُستشهد**» صحيح البخاري) الله تعالی هغو دوه کسانو ته خاندي چې یوبل سره وژني ، دواړه به جنت ته داخلیږي، دا یو د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي ، نو ووژل شي، بیا الله تعالی د قاتل توبه قبوله کړي، نو هغه هم شهید شي . دا څه نا اشنا نه ده چې یوڅوک دې خراب شالید ولري اوله هغې یې توبه کړې وي، بیا ورته شهادت په نصیب شي،

په اوسني وخت کې د رښتيني جهاد ډېرې داسې بېلګې شته چې تازه يې توبه ويستلې وي. غزوه احد ته څه صحابه داسې حالت کې لاړل او په بيګايي يې شراب څکلي وو: **(اصطبح ناس الخمر يوم أحد ثم قُتِلوا شهداء)** (صحيح البخاري) څه خلکو د احد په ورځ شراب وڅښل او بيا دوی شهيدان شول او دا هغه وخت وچې شراب حرام شوي نه و، تردې چې هغو چې له تحريم نه وروسته هم څښلي و، دوی يې د شهادت غوښتلو ارمان څخه ونه ګرځول. دوی ځکه شهادت غوښتلو چې د کړې ګناه لپاره کفاره وګرځي.

د في سبيل الله مرګ ته له تياري وروسته لازمي ده چې له توبې ويستلو پسې دعمل اصلاح هم وشي، ابن عمر رضي الله عنه به ويل: **(إذا أمسيتَ فلا تنتظر الصباح، وإذا أصبحتَ فلا تنتظر المساء، وخذ من صحتك لمرضك، ومن حياتك لموتك)** صحيح البخاري) که ماښام درته راغی، نو د سبا انتظار مه باسه، او که سبا دربانديې راغی، نو د ماښام انتظار مه کوه! د ناروغۍ لپاره له صحته (ګټه) واخله او دمرګ لپاره له ژونده (ګټه) واخله. ابن حجر رحمه الله ددې حديث په شرحه کې وايي: هغه څه وکړه چې له مرګ وروسته درته پکار راځي او د صحتمندۍ ورځو کې نيک عمل لپاره لاس په کار شه. مرګ يوناڅاپه راځي، بيا سړی له عمل څخه منع کړي نو په هغه چا وېره پکار ده چې پدې کې ناغېړي کوي چې معاد ته له زاد او توښې بغير ځي.

څنګه چې د مرګ ارمان کولو څخه د منعې دليل دا ويل شوی: پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**لا يتمنى أحدكم الموت إما محسنًا فلعله يزداد، وإما مسيئًا فلعله يستعتب**» (صحيح البخاري) له ستاسو څخه دې څوک د مرګ ارزو نه کوي، که نيکي کوونکی وي نو شايد نوره نيکي وکړي او که بدعمله وي کيدای شي توبه وباسي. د يستعتب معنا الله تعالی په ښښنې غوښتلو او ګناه پرېښودلو راضي کړي. مطلب ځان له عتابه خلاص کړي.

الله تعالی بنده ته د حُسن خاتمې لپاره د اعمالو توفيق ورکوي په دې اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**إذا أراد الله بعبد خيراً استعمله، قالوا: وکيف يستعملُه؟ قال: يُوفِّقه لعمل صالح قبل موته**» مسند أحمد ۳/ ۱۰۶) "کله چې الله تعالی بنده ته د خير اراده وکړي، هغه استعمالوي، هغوی رضي الله عنهم وويل، هغه څنګه استعمالوي؟ هغه وفرمايل: هغه جل جلاله ورته له مرګ څخه دمخه دنيک عمل توفيق ورکوي. او د مرګ او حساب په ډېر يادولو سره نيک اعمالو ته لاره برابرېږي او شايد موږ الله تعالی ته په اطاعت کولو استعمال کړي او خاتمه مو ښه شي.

د هيچا خواري رښتينې نه ګڼل کيږي، ترڅو يې قرباني نه ورکړي، ځکه جهاد په نفس او مال سره وي او دا دواړه سخا او قربانۍ ته اړتيا لري، که څوک ځان ځارولو او ورکړې ته نه وراندې کيږي، نو بيا د جنت خوبونه

ځله ګوري؟! د بشير بن خصاصية په اړه روايت دی چې هغه د پېغمبر صلی الله علیه وسلم سره بیعت کولـو تـه راغی، نوهغه د بیعت له دوو شرطونو پابندۍ څخه د عذر غوښتلو اراده درلوده، هغه وویل: ((دوه شیان چـې زه یې په الله قسم که توان لرم؛ جهاد او صدقه؛ ځکه دوی دا وايي چې که چا دښمن ته شاه کړه نو په هغه بانـدې د الله تعالی غضب نازلیږي، نو زه پدې ویریږم که زه جنګ ته راشم، زما نفس به ما منعه کړي او مرګ څخه بـه بـد وګنم. او صدقه خو په الله قسم چې یو څو ګډې او بېزې لرم او ترلسو مې اوښـان دي چـې زمـا د اهـل لپـاره د شودو او بار وړلو ګذاره پرې کیږي)). صحابي د جهاد څخه وېره د تېښتې په ګناه کې په واقع کېدلو تعبير کړه او د صدقې ورکولو مسئله یې د کمې پانګې له وجې علت وګرځوله، نو رسول الله صلی اللـه علیـه وسـلم د هغـه لاس ونیو، بیا یې وښانده ، وې فرمایل: «**فلا جهاد ولا صدقة، فَلِمَ تدخل الجنة إذًا؟!**» مسند أحمـد ٥/ ٢٢٤) نـو چې جهاد او صدقه نه وي، نو بیا ولې جنت ته داخلیږې؟ نو صحابي وايي: چې په ټولو خبرو مې ورسره بیعـت وکړ. نو دلته مسئله د خوارۍ او کوشش ده، پدې کې د (سودا د نرخ په څېر) کم او زیات یا تنازل احتمال نشته.

قرباني له جرأت پرته نه وي، له همدې وجې هغه چې د خپلې وينې، نـاموس او مـال پـه دفـاع کـې ووژل شي، په شهداو کې شمېرل کیږي، حدیث کې راځي: «**مَن قتل دون ماله فهو شهيد**» صحيح البخاري) څوک چې دخپل مال په دفاع کې ووژل شي شهيد دی. ترڅو په خلکو کې د ظلم د مخنیوي او مقاومت کولو روح ژونـدی پاتې شي، که د مال خاوند شهيد هم نه شي، له اجر څخه به محروم نه پاتې کیږي.

بیا ته د مجاهد نوم څنګه په ځان وړې ، پداسې حال کې چې د جهاد معنا داده چې د اسلام مرستې لپـاره ټول طاقت او اخري ته توان او پوره زحمت وویستل شي، همدغه معنی حدیث پدې ډول تعبیروي: «**خير معايش الناس لهم: رجل ممسك بعنان فرسه في سبيل الله، ويطير على متنِه، كلما سمع هَيْعَـة أو فزعـة طـار عليـه إليهـا، يبتغي الموت أو القتل مظانه ...**» صحيح سنن ابـن ماجـه للألبـاني - كتـاب الفـتن) خلکـو کـې بهـترین وخـت تېروونکی هغه سړی دی: چې د الله تعالی په لاره کې خپل آس واګي نیوونکی وي او په هغه باندې الوزي، کله چې چغه او فریاد واوري، په هغې ور الوتی وي او هلته خپل مرګ او شهادت غواړي.

یو خواري کښ شهادت غوښتونکي مجاهد، چې په غزوه خیبر کې دهغه دېښې انځور دادی چې عامر بن الأكوع په خطا سره، چې کله یې په زنګون توره راتاویږي نو ووژل شو، ځینې صـحابه و وویـل : (**حَـبِطَ عملُـه**). معنا دهغه عمل ضایع شو، ځکه چې دوی ګومان کاوه چې هغه خپل ځان په خپله وواژه، نو د هغه ورور سـلمة بن الأكوع لاړ، پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه کوي، نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایـل: (**إنـه لـه لأجرين ...**) دهغه لپاره دوه اجره دي، بیا یې دوه ګوتې یوځای کړې، په رښتیا سره هغه جاهد او مجاهد دواړه و،



ډېر کم داسې عرب دده په څېر لاړ شي. ابن درید وایي: جاهد دا معنا چې په کارونو کې ډېر خواري کښل وي او مجاهد څخه هغه څوک مراد دي چې زحمت او تکلیف ګالي. دا د پېغمبر صـلی اللـه علیـه وسـلم لخـوا پـدې ګواهي ده چې د الله تعالی په لاره کې د وژلو اجر حاصلیږي او دخواری ، زحمت تېرولو سره دنشاط اجـر هـم وي او دا د شهادت غوښتونکو منزلت دی.

یوه بله پېښه چې په غزوه احد کې د انس بن النضر رضي الله عنه ده انځـور دی، هغـه پـه غـزوه بـدر کـې شرکت نه و کړی، بیا یې الله تعالی سره تعاهد وکړ چې کوم څه (ثوابونه) چې ورڅخه تللي ، دهغـې عـوض بـه راګرځوي:(که چېرې زه الله تعالی دا وار د نبي علیه السلام سره یوځای کړم ، نو الله تعالی به خامخا زما کوشش چې کوم یې وګوري).

نوموړی غزوه احد ته حاضر شو، جنګ یې شروع کړ، چې کله یې خلک په شاتګ (شکست) ولیدل نو ده سعد بن معاذ رضي الله عنه ته نارې کړې : **(أین یاسعد؟! إني لأجد ریح الجنة...) صحیح البخاري)** اې سـعده! چېرته روان یې له شک پرته زه په احد کې د جنت بوی احساسوم، بیا مخکې روان و، وروسته ووژل شو، نو بیا نه پېژندل کېده، تردې چې خور یې په کوم ټاکي یا په ګوتو وپېژنده او دده په بدن څه باندې ۸۰ د نیزو، تورو او غشو ګذارونه شوي و. سعد بن معاذ رضي الله عنه په احد کې دهغه د کلک مقاومت په اړه وایي: کوم څـه چـې هغـه وکړل ، هغسې ما ونکړای شول... او دا په انس بن نضر کې ستر شجاعت رابښیي، ځکـه چـې د احـد پـه ورځ د سعد بن معاذ ثبات او کمال شجاعت له چا پټ نه و، مګر له هغې سره کوم څه چې انس بن نضر کړي و، پټ نه کړل، نو ته هم د خپل دین کومک او نصرت لپاره، په هیڅ ډګر او سنګر کې د خپل وخت او توان دریغه مه کـوه، شاید تا د الله تعالی په لاره کې له ربښتیني جهادکوونکو څخه وګرځوي، چې دشهادت لپاره هروخت آماده وي.

نو مرګ نه په خپله هدف دی، نه چېرته مرګ ته مخکې کېدل انتحار یا ځان وژنه ده، نه د شهادت تمنا کول له ژونده مایوسي ده، څنګه چې خندق وهل یا په کندې سره ځان خوندي کول؛ ډار نه ده، دغه راز لـه ژونـد سره زموږ تعلق په اسبابو بروسه کول نه دي، او نه هم جرأت کول له خطرونو څخه د ځان نه ساتلو په معنا ده.







موسی فرهاد

# د امریکایي جنرال له نظره،

## ټرمپ د افغانستان په اړه څه کولای شي...؟

په دې کې شک نشته چې امریکایي رسنیو په دې کې ډېر مهم رول ولوباوه چې امریکایي چارواکو ته دا ورتلقین کړي چې دوی په افغان جگړه کې په مکمل ډول شکست خوړلی، ناکامې جگړې ته نور دوام ورکول به د امریکا د هلاکت په مانا وي؛ له همدې ځایه وه چې امریکایي چارواکي زړه نازړه دې ته تیار شول چې د افغانستان د آزادۍ غوښتونکي جنگیالي ځواک (طالبانو) سره د اشغال د پای ته رسولو یو تړون ته گونډه ماته کړي.

دا چې تړون به د یو پروسیجر له مخې د څه باندې یوه کال په موده کې سر ته رسېږي، خو داسې ښکاري چې د معاهدې د تعمیل په لومړیو پوړیو کې یې د امریکا د ملاتړي کابل حکومت لخوا خنډونه او مشکلات رامنځ ته کیږي، او دا په اصل کې د امریکایانو د ناکامۍ په مانا گڼل کیږي چې د سولې په برخه کې هم دوی طالبانو ته پاتې راغلل.

که څه هم امریکا به ظاهراً د دې څرگندونه نه کوي، خو د پامپیو له راتگ او بیا د ناراضۍ اظهاراتو څخه جوتیږي چې د هغوی په وړاندې خنډونه شته. د همدې په رڼا کې د واشنگټن ایکزماینر ورځپاڼې یو مطلب خپور کړی چې په لاندې پراگراپونو کې یې څوک ټکي را اخیستل شوي دي:

د ډانیل ډیوس ( Daniel Davis) په نوم د امریکا د پوځ یو متقاعد ډگروال په یاده ورځپاڼه کې لیکي: په کلي توگه د

افغانستان د جگړې ختمولو یوازنۍ لاره دا ده چې ټرمپ د خپلو ځواکونو د را ایستلو فوري امر صادر کړي.

ډیوس وایي، په دې وروستیو کې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو افغانستان ته سفر وکړ او په کابل کې یې د جانکیري په څیر د جوړجاړي هڅه وکړه، ترڅو د ډاکټر عبدالله او ډاکټر اشرفغني ترمنځ د یو ناقانونه Extra-constitutional واک شریکه سیستم رامنځ ته کړي خو بریالی نشو.

امریکا ته په رسیدو یې اعلان وکړ چې امریکا به نور له افغان حکومت سره د ژمنه شویو مرستو نه ۱ میلیارد ډالر مرسته کمه کړي، څو ورځې وروسته (NBC) این بی سی تلویزون په یو مفصل راپور کې ولیکل چې مایک پامپیو کابل ته د ټرمپ له مهم پیغام سره تللی و، هغه دا چې عبدالله عبدالله او اشرف غني ته یې خبرداری ورکړی و چې که تاسو خپل منځي سیاسي اختلافات نه حل کوئ، له طالبانو سره مذاکراتو ته نه کېنیئ، او د امریکا او طالبانو ترمنځ شوې معاهدې ته درناوی نه کوئ، نو امریکا به هم خپلې مرستې کمې کړي او هم به په کلي توگه خپل پوځونه په عجولانه توگه وباسي.

ډیوس زیاتوي، گرانه ده چې وویل شي، د پامپیو دغه تهدید به افغان رقیبان سره نژدې کړي، ترڅو خپلې ستونځې حل او بیا له طالبانو سره د جگړې د پای ته رسولو لپاره یو جوړجاړي ته کېنیني.

د لیکوال په وینا، دا چې امریکا له ۲۰۰۱م څخه تر ننه پورې د دریو ولسمشرانو، تر درجن زیاتو جنگي جنرالانو، بېلابېلو ستراتیژیو، او په لسگونو زرو پوځیانو په ادلون بدلون او استخدام سره په دې ونه توانیده چې د افغانستان جگړه وگټي او قاطع بریا ترلاسه کړي.

نو له دې نه څرگندیږي چې اوس هم نشي کولای د کابل رقیب چارواکي سره نژدې کړي. د ښاغلي ټرمپ لپاره ښه چاره دا ده چې له ناټو او نورو اړخونو سره په همغږي او کوردیناتیک شکل د خپلو ځواکونو د را ایستلو اجرایوي حکم صادر کړي.

ډیویس وایي، د تیرې فبرورۍ پر ۲۹مه ټرمپ د هغه تړون هرکلی وکړ چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د دې لپاره طراحي شوی ترڅو د امریکا سخت سفر او اوږده جگړه پای ته ورسوي. ټرمپ وویل: اوس وخت را رسیدلی چې نور خپل ځواکونه خپل کور ته را ستانه کړو.

د واشنگټن ایکزماینر مقاله وایي، له بده مرغه چې دلته د ډېرو بهرنیو او کورنیو رقیبو لوبغاړو ډېرې غوښتنې شتون لري، له همدې کبله هغوی تولو هڅې پیل کړي، ترڅو یاد تړون بریا ته ونه رسیږي.

د مقالې لیکوال ډگروال ډانییل ډیویس زیاتوي، دا څرگنده خبره ده چې افغان چارواکو د پامپیو اخطار ته چندان پاملرنه ونکړه، هغه یې سنجیده ونه گاڼه، بلکې ایگنور یې کړ، ځان یې

ورباندي ناګاره واچاوه، د دې مطلب دا دی چې دوی غواړي، دغه سیاسي جګړه دې همداسي غیرمتناهي جریان ولري؛ لکه څنګه چې هغه جګړه پای نه مومي؛ په کومه جګړه کې چې امریکا له ۲۰۰۱م کال راهیسي ننبتي ده.

د لیکوال په وینا ټرمپ باید بالأخر پوه شي چې دی دې ته اړتیا نلري چې د افغان حکومت او طالبان ترمنځ مذاکرات کیږي کنه، په پایله کې یې یو کامیاب ټرون رامنځ ته کیږي او کنه.

ټرمپ کولای شي چې د خپل صلاحیت په کارولو سره داسي یو حکم صادر کړي چې جګړه د امریکا او ناټو پر شرایطو پای ومومي. او په دې توګه نوموړی کولای شي چې د دفاع او خارجه وزیرانو ته لاربنوونه وکړي، ترڅو هغوی خپل دواړه متحدین (ناټو او افغان حکومت) آګاه کړي، چې د بهرنیو ځواکونو د مکمل اخراج وخت ډېر لنډ دی.

لیکوال زیاتوي چې، تر ټولو تریخ حقیقت دا دی چې افغان مشران تراوسه هم په دې باور نه کوي چې امریکا دې په رښتیا په مکمل ډول ووځي.

پایله یې دا ده چې دوی خپل کار کوي، او حتی دې ته هم تیار نه دي چې په ډېر ابتدایي شکل ترخپل منځ کوم جوجاړی رامنځ ته کړي.

کله چې د حکومت د سر دوه چارواکي د څوکۍ پرسر دومره سخت رقابت کوي، او دې ته نشي تیاریدی چې خپلو کې سره جوړ شي؛ نو څنګه توقع کیدای شي چې د دوی ګټونکی دې سبا له خپل دښمن سره کوم جوړ جاړي یا کمپرومایز ته ځان ورسولای شي.؟

یوازنۍ لاره چې په مټ یې ټرمپ کولای شي د امریکا او د خپلو ځواکونو امنیت خوندي کړای شي؛ دا ده چې په مکمل ډول د خپلو ځواکونو را ایستلو امر صادر کړي. افغان چارواکي به هله پوه شي چې له خپلو مخالفانو سره جوړجاړی څه شی دی، او څنګه دوی دې کار ته لاره موندلای شي.

په واشنګټن ایګزماینر ورځپاڼه کې د ډانیل ډیوس په نوم د متقاعد امریکایي جنرال څرګندوني ښیي چې هغوی د سولې په پروسه کې هم د امریکا پر ناکامۍ ویره محسوسوي، له همدې ځایه ده چې د دوحې د ټرون د تعمیل په رابطه امریکایي چارواکو ته د حل لاري په توګه خپل وړاندیزونه کوي. ښایي په دې توګه هغوی غواړي چې امریکایي ځواکونه هم له ناکامې جګړې وباسي او هم یې د دوحې د ټرون په پروسه کې د ملامتۍ له نکتې وژغوري.

پای......!



# داسلام غزوات او سرایا

## تبوک غزا

- په تیرپسې
- ابوظهیر

**شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي رح په سیرة المصطفی کې لیکلي:**

څنګ چې مسجدحرام،مسجد اقصی اومسجد نبوي هروخت دالله تعالی له اطاعت اوبنده ګۍ نه معمور دي،اوهلته ور تګ، ورکې تم کیدل و میشت کیدل،عین قربت،عبادت،او سراسر دخیروبرکت موجب دی،او درحمتونو دنزول باعث دی،ددې برعکس هغوځایونوته قصداً ننوتل،اوهغوته ورتګ کوم چې کافي موده دالله تعالی دنافرمانۍ مقرونه پاته شوي دي،اوپکې دالله تعالی عذابونه نازل شوي،نهایتي خطرناک دي،څنګ چې الهی حرم ته ننوتونکولپاره داحکم دی چې :وَمَن دَخَلَهُ كَا آمِنًا هم داسې دعذاب ځایونوته ننوتل دالهی عذاب دنزول باعث ګرځي،دبیت الحرام نه که څوک طواف وکړي اوکه نه،هغه پخپل ذات کې دبرکتونو،انوارو او تجلیاتوسرچینه اومنبع دی،دهغه په لیدو سره له زړونو څخه تیارې اونفرتونه تښتي،دهغه ځای اوبه او هوا دروحاني ناورغیو لپاره شفاده،نو عجیبه نده چې دروحاني اطباؤ په نظرکې دعذاب ځایونو( مواقع)اوبه اوهوامسمومې وي،او دهغه ځای دزهرودک جراثیم دي دروح اوقلب لپاره مضروي،ددې لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه ځای اوبوله استعمالولوڅخه سخته منع وکړه،دکوم کوهي نه چې دصالح علیه السلام اوښې ته اوبه ورکول کیدې، دهغه نه یې صحابه ووته داوبوڅکلو حکم وکړ،ځکه چې هغه کوهی دالله تعالی دمعصیت اوغضب له اثرنه پاک و،دزمزم اوبه مبارکې اوبه دي،دظاهري ناروغیوڅخه پاکې دي،خصوصاًدباطني ناروغیو لپاره اکسیردي،په دې یې دهغو دڅکلو تاکیدفرمایلی،چې څومره څکلی شئ هغومره وڅکئ!کوم بدنصیب چې دالله تعالی او دهغه درسول نافرمانۍ کولوته ملاتړلې وي،اوپه هغه

عـذاب نـازل شـوی وي،هغـه پـه حقيقـت کـې لـه څارويواو ځناوروڅخه هم بدتردی

په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغو اوروپه باره کې( چې دثمودیانو دسیمې په اوبواغږل شوي وو) حکم وکړ چې اوښانوته دي واچول شي،زکه هغه اوبه دڅارويو دمزاج سره برابرې وې،نه دانسانانو دمزاج سره،غرض داچې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دعذاب له زمکې تیریده،نو ورسره اندیښنه پیداشوه چې هسې نه ددې ځای زهرجنې اوبه په صحابه وو بدتاثیر وکړي، نو دحفاظت لپاره یې هغوی ته یې یونسخه یاعلاج وښود هغه داسې:چې صحابه ووته یې وفرمایل: له دې ځایه تیټ سرونه اوپه ژړا کې درومئ،یعنې په «تخشـع، تضرـع، ژړا اوپخپلـو گناهونوپښـیمانۍ ښودوسره»تیرشئ،زکه دې کار دهغه ځای داوبو اوهـوا دزهـرجن اثراتوڅخـه دحفاظـت لپـاره داکسیرحکم لاره،که دپیچکارۍ او درملو دخوړو وروسته یوڅوک له طاعون ځپلې سیمې تیرشي،نوهغه په طاعون دمبتلی کیدواندیښنه نلري،لنډه داچې توبه اوژړا اوپخپلو گناهونوپښیمانې یو داسې قوي درمل دي چې دخوړو وروسته یې دسختوزهرو اثرهم نه پاته کېږي

سبحانک اللهم وبحمدک اَ شهدُ ان لاّ اله الاّ انتَ استغفرُکَ،وَاتُوبُ اِلَیکَ قَال تعالی ولاتَرکنُوااِلی الذین ظلموافَتَمَسَّکُمُ النّار، وسَکنتُم فِی مَساکِنِ الذین ظلموا انفسهُم

دظالمانوپه لورمیلان او دظالمانوپه کورونوکې استوگنه هم دعذاب راتلو موجب ده

کله چې حجرته ورسیدل،رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم وکړچې هیڅ تن دي تنها نه گرزي،دوه تنه ووتل، هغوی دواړه ناڅاپه څه شي وچیچل، دواړه رسول الله صلی الله علیه وسلم دم کړل اوروغ شول،اویوبل شخص هوا پورته کړ،د(طی) غرونوته یې ویوړو اوهلته یې وغورځاوه،چې دځه وخت وروسته بیا مدینې منورې ته راغی

دادبیهقي او ابن اسحاق روایت دی،دصحیح مسلم دروایت نه معلومیږي چې داپیښه په تبوک کې رامنځته شوې ده،ممکن دوه جلا پیښې وې،یا دابن اسحق اوبیهقي په روایت کې راوي وهم کړي وي ( والله اعلم)

وړاندې لاړل په یو پړاوکې تم شول،هلته اوبه نه وې،سخت پریشانه شول،رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا وکړه، باروان وشو،په سبب یې تول سیرابه شول،له هغه ځایه پورته شول او روان شول،درسول الله صلی الله علیه وسلم اوښه ورکه شوه،یو منافق وویل چې:

رسول الله ! د اسمانوخبرې کوي او له خپلې اوښې خبرندی چې هغه چیرې ده

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

په خدای سوگندزه دهیڅ څیزعلم نلرم،مگرهغه چې الله ماته راکړی دی،او س په الهی الهام سره ماته معلومه شوه،چې هغه اوښه په فلانۍ وادي کې ده،او دهغې مهارله یوې ونې تاو(تړلی) شوی دی،چې راتلی نشي،صحابه هغه ځای ته ورغلل او اوښه یې راوسته( رواه البیهقي وابو نعیم)

تبوک ته درسیدوڅخه یوه ورځ وړاندې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه ووته وفرمایل:

سبا دڅاښت په وخت تاسوتبوک ته رسئ،هیڅ تن دي له هغه چینې اوبه نه څکي.

کله چې هغه چينې ته ورسيدل،نو څاڅکی ، څاڅکی اوبه څڅېدې،په ډيرزحمت يې په يولوښي کې لږې اوبه جمع کړې،رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغو لاس اوخوله ووينځله اوبيا يې هغه اوبه بيرته په هغه چينه کې واچولې،په دې سره چينې فواره پورته کړه اوټول لښکرسيراب شو او معاذبن جبل رضی الله عنه ته يې وفرمايل:

اې معاذه!که ژوندی وې نو ته به داسيمه په شنوباغونو زرغونه ووينې!( رواه مسلم)

دابن اسحق په روايت چې تراوسه هغه فواره جارې ده او له لرې څخه يې غږ اوريدل کېږي (خصايص کبری۱ټوک ۲۷۳مخ)

تبوک ته په رسيدو رسول الله صلی الله عليه وسلم هلته تر شل ورځو تم شو،خو دجنګ نوبت رانغی،ليکن درسول الله صلی الله عليه وسلم داسفر بيکاره ثابت نشو،دښمن يې مرعوب کړ، شاوخوا قبايل راغلل تسليم شول،او داهل جرباء،اذرح اوايله( دادرې واړه سيمې په شام کې دي)واکمن راغلل،صلح يې وکړه او جزيه ورکول يې ومنل،رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته صلح نامه وليکله او ورېې کړه .

له همدې ځايه رسول الله صلی الله عليه وسلم خالدبن وليد ته څلورسوه شل سپاره ورکړل او داکيدرپه لوريې واستاوه، څوک چې دهرقل له لوري په «دومة الجندل» واک من و،دروانيدو په وخت کې يې خالدبن وليد ته وفرمايل چې:

هغه به تاته په داسې حالت کې په لاس درشي چې په ښکارکولوپسې به وتی وي،خو قتل يې نکړې،قيدېې کړه اوماته يې راوله.هو!که هغه انکار وکړ بيا يې قتل کړه

دڅوارلسم سپوږمۍ په رڼاکې هغوی هلته ورسيدل،دګرمۍ موسم و،اکيدر دخپلې ميرمنې سره يوځای دکلا په ديوال ناست وسندره يې اوريده،ناڅاپه يونيل غويه دکلا له پاټک سره ټکر وکړ، سملاسي اکيدر دخپل ورور اوڅو نوروملګروسره يوځای ښکته شو او دهغه په ښکارپسې په اسونوسپاره شول اوور پسې په ځغاسته کې لرې ووتل، خالدبن وليد ور ته مخکې شو داکيدر ورور مقابله وکړه هغه ووژل شو او اکيدرچې دښکار لپاره وتلی و پخپله دخالدبن وليد لخوا ښکارشو

خالدبن وليد هغه ته وويل:

زه تاته دوژلوڅخه پناه درکولی شم،خوپه دې شرط چې ته له ماسره درسول الله صلی الله عليه وسلم په حضورکې حاضريدل اومنې، اکيدر وامنله،خالدبن وليداکيدر له ځان سره کړ او درسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کې يې حاضرکړ، اکيدردوه زره اوښان،اته سوه اسونه،اته سوه زغرې، څلورسوه تورې ورکړې او صلح يې وکړه (عيون الاثر۲ټوک ۲۲مخ)

دشل ورځو تم کيدو وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم له تبوک څخه مدينې منورې ته ستون شو کله چې دمدينې منورې نه ديوساعت په مسافت «ذی وان» سيمې ته ورسيد نومالک بن دخشم، اومعن بن عدي يې دضرار مسجد نړولو اوسيزلو لپاره له ځانه مخکې واستول. نوربيا...

# جنګي جنايتونه( مارچ)

سيد سعيد



د ۲۰۲۰ ز، کال دمارچ په ۵مه د بادغيس ولايت د سنګ آتش ولسوالۍ د چکه کلي ته څېرمه حکومتي عسکرو يو چوپان شهيد کړی دی.

د مارچ په ۸مه د بغلان ولايت د پلخمري ولسوالۍ ددويمې حوزې عمرخيلو کلي کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې اووه تنه ملکي وګړي شهيدان او ژوبل شوي دي.

دمارچ په ۹مه د پکتيکا ولايت مرکز ښرنې کې حکومتي عسکرويو محصل ( محمدغوث ولد محمدعمر) نيولی او په شکنجو يې شهيد کړی دی.

د مارچ په ۱۰مه د پکتيکا ولايت د جانيخيلو ولسوالۍ په زېړي سيمه کې حکومتي عسکرو دوه تنه ولسي وګړي( پلار او زوی) شهيدان کړي دي.

د مارچ په ۱۰ د هلمند ولايت دګرشک ولسوالۍ د نهرسراج دبالاخانو په سيمه کې ځايي عسکرو يو سپين ږيری کليوال( عبدالظاهر اکا) شهيد کړی دی.

د مارچ په ۱۲مه د کاپيسا ولايت د تګاب ولسوالۍ په قلعه ولي سيمه کې د داخلي عسکرو په ډزوکې يو ملکي وګړی شهيد شوی دی.

د مارچ په ۱۵مه د کندز ولايت د خان اباد ولسوالۍ په کهنه قلعه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې درې ښځې ټپيانې شوې دي.

د مارچ په ۱۵مه د پروان ولايت د بګرام ولسوالۍ په پنج کلا سيمه کې حکومتي عسکرو يو ملکي وګړی شهيد کړی او بيا يې اور پرې بل کړی دی.

د مارچ په ۱۵مه دهلمند ولايت د نادعلي ولسوالۍ د ماتکي په سيمه کې ځايي عسکرو دوه ماشومان ( عبداللطيف او عبدالقهار دعمر اکا زامن )چې مدرسې ته دزده کړې لپاره روان وو، شهيدان کړي دي.

د مارچ په ۱۶مه د پکتيکا ولايت د برمل ولسوالۍ په ملن سيمه کې قومندان موزيګي يو ملکي وګړی( بوستان ولد ميتاخان) شهيد کړی دی.

د مارچ په ۱۶مه د بدخشان ولایت د وردج ولسوالۍ په غنیو سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په پیرونو کې یو کروندګر شهید او پلار یې ژوبل شوی دی.

دمارچ په ۱۷مه د کندز ولایت د خان اباد ولسوالۍ په توت مزار سیمه کې د حکومتي ځواکونو په ېمبار او توغندیزو بریدنو کې لس تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي او دوې میرمنې ټپیانې شوې دي.

د مارچ په ۲۰مه د بادغیس ولایت د مقر ولسوالۍ په چشمه دوزک سیمه کې داخلي عسکرو دوه تنه تجاران (تازه ګل او عبدالرحمن ) شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۲۱مه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په یکه توت سیمه کې حکومتي الوتکو دیو ملکي وګړي( عبدالرشید) کور ېمبار کړی،چې له امله یې دهمدې کورنۍ یوولس تنه غړي شهیدان او څلور تنه ټپیان شوي او ځینې کورونه زیانمن شوي دي.

د مارچ په ۲۱مه د کندز ولایت د دښت ارچي ولسوالۍ په تاجکي قشلاق سیمه کې د حکومتي ځواکونو په ېمبار کې څلور تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

دمارچ په ۲۱مه دفاریاب ولایت د المار ولسوالۍ د بخاري قلعه په سیمه کې دحکومتي قواوو دثقیله وسلو په ډزو کې څلور تنه نارینه او ښځینه ټپیان شوي دي.

د مارچ په ۲۳مه د لغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په سالاب دره کې دحکومتي ځواکونو دهاوان په ډزوکې یو شپونکی شهید شوی دی.

دمارچ په ۲۳مه دفاریاب ولایت ددولت اباد ولسوالۍ په فیروزه سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو کور زیانمن شوی او پکې میشت یوه ښځه شهیده او یو سړی ژوبل شوی دی.

دمارچ په ۲۵مه دبادغیس ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ د بازار په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د مارچ په ۲۵مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په عیسی خیلو کې حکومتي عسکرو دولسي خلکو دسپرلۍ موټر ویشتلی چې له امله یې دوه ملکي وګړي شهیدان او یو ماشوم او دوې میرمنې ژوبلې شوې دي.

د مارچ په ۲۶مه غزني ولایت کې د کابل-کندهار په لویه لاره په نوغي سیمه کې داخلي عسکرو دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي. همداراز د ګوړیانو په سیمه کې هم داخلي عسکرو د امیرمحمد په نوم یو ملکي هیوادوال شهید کړی دی.

د مارچ په ۲۹مه د فاریاب ولایت دالمار ولسوالۍ د بخاري قلعه په سیمه کې د داخلي عکسرو په ډزو کې یو (لس کلن) ماشوم شهید شوی دی.

د مارچ په ۳۰مه د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په حاجي اباد سیمه کې دحکومتي ځواکونو دثقیله وسلو په ډزو کې یوه ښځه شهیده شوې ده.

د مارچ په ۳۰مه د لغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په رهین سیمه کې دحکومتي ځواکونو په ېمبار کې یو کور ویجاړ شوی، یوه میرمن شهیده اویوه ماشومه او دوې ښځې پکې ټپیانې شوې دي.

دمارچ په ۳۱مه د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ په شیوان سیمه کې داخلي عسکرو یو کلیوال( تورجان اکا) شهید کړی دی.

د مارچ په ۳۱مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په محب خیلو سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یوه میرمن شهیده او بله ټپي شوې ده.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،ټول افغان ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]



# د مورچل وزمې

## ستا مېړانه

**ساقي يار**

طالبه ستامېړانه درست جهان وپېژندله
امت دې په نوم وياړي له دفترنه تر مورچله

دژوند په هدف پوه يې دبري په راز خبره
اتل د معرکو يې او تور زن يې له ازله

کاروان دې دبري تربريده رسي پرې ډاډه يم
په مرسته د الله دې امريکا وپرزوله

تبريک شه دغيور ولس مظلومو پرګنو ته
آزار مو صليبي سپينه ماڼۍ ولړزوله

غازيانو اتلانو دتن وينې نذرانه کړې
الله يې په بدل کې پرې بريا ولوروله

ای سپينې طالبي لښکرې لږ انتظار وکړه
چې لارې درته فرش کړو په بخملو ترکابله

دامن او خوشبيو زيري ورکړه وه ولس ته
غربي بلا له برمه ساقی ياره پرېوتله

طالبه ستا مېړانه درست جهان وپېژندله
امت دې په نوم وياړي له دفترنه تر مورچله

## غزل

**مائل**

لکه شمعه ترسهاره راته ژاړه
ای د پاکې مینې یاره راته ژاړه

د غزا په ډګر پروت یم ځوانیمرګ یم
پرهرونه مې ټول شماره راته ژاړه

نور به پاته دا رنګین مازیګری شي
بیا مې مه کړه انتظاره راته ژاړه

د مَیَنو قافلې چې به پرې تللې
دا دی ځم په هغه لاره راته ژاړه

کله کله که مایله در په زړه شوم
نو راځه تر خر مزاره راته ژاړه

# غزل

اکرام الدین مفتون

تـــا پـــه شـــونډو د مســـکا بربښـــنا پړقيـــږي
کـــه پـــه وينـــو د ځـــلا بربښـــنا پړقيـــږي

اننګـــي دې د حيـــا نـــه ســـره او ســـپين شـــول
کـــه لـــه قهـــره پـــه بربښـــنا بربښـــنا پړقيـــږي

نـــوی عشـــق، نـــوې ځـــواني، نـــوي کاتـــۀ دي
کـــه ســـپرلی دی وارخطـــا بربښـــنا پړقيـــږي

تـــورې زلفـــې دې پـــه ســـپين رخســـار تـــالی خـــوري
کـــه پـــه غرونـــو د تيـــرا بربښـــنا پړقيـــږي

د ســـينې ګلشـــن بـــه هـــيڅ هـــم مـــړاوی نشـــي
چـــې پـــه ســـترګو د ژړا بربښـــنا پړقيـــږي

تندرونـــه بـــه هـــر خـــوا پـــه ظـــالم پريـــوځي
لا پـــه زړۀ کـــې د اســـيا بربښـــنا پړقيـــږي

دا ســـپېڅلی شهـــادت د طالـــب ســـتايي
چـــې پـــه دښـــته د لـــيلا بربښـــنا پړقيـــږي

د مفتـــون پـــه زړۀ بـــه خـــود د عشـــق ړلـــی وي
ســـتا پـــه مـــخ چـــې د ښـــکلا بربښـــنا پړقيـــږي

# سپین امارت

ملا عبدالرحمن معتصم

ويـــر دي پراتـــه دشـــهادت جامونـــه
پريـــږدئ داتـــږي پـــه يـــودم او بـــه شـــي
ژر انقـــلاب تـــه رخصـــت مـــه ورکـــوئ
چـــه دا تنـــدي ګلونـــه ســـم اوبـــه شـــي
لامنصـــوري ارمـــان تـــه وخـــت پـــاتي دی
لاعمـــري منـــزل مزلونـــه غـــواړي
لا پـــه ازمـــون کـــې جنتـــي ازادي
دار اوزنـــدان غـــواړي اورونـــه غـــواړي
دهمـــت شـــمعي درنـــه مـــړاوي نشـــي !
هغـــه جزبـــې اورونـــه بـــل وســـاته
ای دتوحيـــد دبـــڼ ماليـــار طالبـــه
ســـپين امـــارت دغســـي ګـــل وســـاته
چـــه څـــو روان وي ســـمندر دمينـــې
مـــوږ بـــه پـــري تنـــده دجهـــاد مـــاتوو
دخـــدای پـــه عشـــق لکـــه دبـــدر غازيـــان
بـــه پـــاتي شـــوني دالحـــاد مـــاتوو
زړونـــه وهلـــې دســـتم ســـيليو
زخمـــې زخمـــې دي درملنـــه غـــواړي
ســـوله کمـــال تـــه رســـېدلې نـــه ده
ســـوله ماشـــومه ده پالنـــه غـــواړي
نـــور بـــه هـــم غـــچ لـــه تنـــدرونو اخلـــو
دازادی د لمـــر رڼـــا کمـــه ده
دمعتصـــم قلـــم دحـــال پـــه ژبـــه
وايـــې دتـــورو نـــن بريښـــنا کمـــه ده

# دعوت، ارشاد جلب او جذب کمېسیون:

## په مارچ کې۷٦٠ تنه د کابل اداري کارکونکي له اسلامي امارت سره یو ځای شوي

د (۲۰۲۰م)کال د مارچ په میاشت کي  د اسلامي امارت د دعوت ،ارشاد ،جلب او جذب کمیسیون په هڅو او د ځایي مجاهدینو په ملاتړ د افغانستان په مختلفو ولایاتو کي ۷۶۰ تنه چي د کابل اداري اړوند بیلابیلو ارګانونو کي په کار بوخت وو د حقایقو په درک کولو د دغه فاسد رژیم څخه راووتل او د اسلامي امارت د مجاهدینو سره یو ځای شول.

دوی مختلفه النوعه لویې اووړې وسلې ،مخابرې ،وسایط او یوزیات شمېر مهمات مجاهدینو ته وسپارل.

د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یو ځای شوو هیوادوالو وعده وکړه چي نور به د دین او وطن دښمنانو د خارجي او داخلي مزدورانو سره هیڅ راز تعلق نه ساتي، د خپل مظلوم ولس او مجاهدینو ورونو سره به همکاري کوي، تر څو لوی خدای جل جلاله ژر تر ژره زموږ له ویاړلې خاوري څخه د فتنه، کفر ،اشغال ، فحشاء او ګمراهیو کرغیړن ټغر ټول کړي او د مسلمانانو د خوښي یو سوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چي ټول افغانان پرې راټول شي.

د اسلامي امارت د دعوت ،ارشاد ،جلب او جذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هر کلي وو ایه، انعامونه او جایزې یې ورکړې او د دوی نیک اقدام یې ډیر وستایه چي د یرغلګرو او لاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل او د افغانستان اسلامي امارت د مجاهدینو سره یې خپل پیوستون اعلان کړ .



انځور: د سمنګان ولایت لپاره د ځانګړې قطعې پولیسو معاون محمدرسول له خپلې پورتنۍ شوبلې سره مجاهدینو ته راغی

# MORCHAL

*Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal*

